

# مور

(لنډې کیسې)

Ketabton.com

روشن لال ملهوتره

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مــــور

(د لنډو کیسو ټولګه)

روشن لال ملهوتره

۱۳۹۴ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# كتاب پېژندنه:


د كتاب نوم: مور (لنډې كيسې)

ليكوال: روشن لال ملهوتره

چاپ زيار: محبوب الله خان

خپروندی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوزګر: شاه محمود شینواری

ډيزاينګر: ضیاء ساپی

پښتی ډيزاين: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۳۴)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالـــۍ

هغو پښتنو ته چې په ګڼ ژبو ټولنوکې ژوند کوي، خو خپله پښتو یې نه ده هېره کړې، خبرې او لیکل پرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لـــــــــړلـــیک

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| ۱- د ملهوتره پر لنډوکیسوځو تکي.................. | ۱ |
| ۲- ددې کتاب په اړه.................................. ..... | ۳ |
| ۳ - فحاشه ....................................... | ۵ |
| ۴- د کافرانو خدای.......................................... | ۱۳ |
| ۵ - پرتوګانې ............................................ | ۳۱ |
| ۶ - خدايي خدمتګار ...................................... | ۴۳ |
| ۷ - غټې غټې سترګې ...................................... | ۵۱ |
| ۸- بوډا............................................. | ۶۱ |
| ۹- سوالګر......................................... | ۶۹ |
| ۱۰- مور.............................................. | ۷۳ |
| ۱۱- د لیکوال لنډه پېژندنه................................ | ۸۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانې ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ملهوتره پر لنډوکیسوڅو ټکي

ښاغلی روشن لال ملهوتره ژورنالیست، لیکوال او ژباړونکی دی. د هند د غه نومیالي لیکوال او ژورنالیست تر اوسه پورې ګڼ شمېر پښتو آثار هم لیکلي یا را ژباړلي دي.

ملهوتره د پښتونخوا په سمسوره او ښایسته سیمه سوات کې زېږېدلی او تر دولس کلنۍ پورې هلته اوسېدلی دی. وروسته هند ته تللی او لوړې زده کړې یې کړې دي. په آل انډیا راډیو کې یې د نطاق او ژورنالیست په توګه کار پیل کړی او ډېر کلونه یې د دې راډیو د پښتو څانګې مشري کړې ده. په پښتو ژبه د هغه شپږ اثره تر اوسه پورې د چاپ پر ګانه سنبال شوي دي او دا دی د نېکمرغۍ ځای دی چې د پښتو لنډو کیسو د غه ټولګه یې هم خپرېږي.

((مور ) )د ښاغلی ملهوتره اتو لنډو کیسو ټولګه ده چې د ګران لیکوال محبوب الله خان په همت چاپ ته چمتو شوې ده.

د دې ټولګې کیسې د هند د ټولنې او د غه راز د افغاني ټولنې د ځینو اړخونو ځرګندونه کوي. ځینې پکې دا سې کیسې دي چې په دواړو ټولنو، دواړو کلتوري ساحو پورې اړه پیدا کوي. د دې کیسو یو څو عمومي ځانګړتیاوې دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نثريې په زړه پورې دی او سره له دې چې د يوه هندي ليکوال په قلـم کښـل شـوې دي او پـه راډيـوکې د ډېرکارلـه کبلـه ژورناليسـتک خصوصيات هـم خپلـوي، خولکـه ديو پښـتون - افغان په قلم چې ليکل شوې وي.
- د هند د ټولنې ځينې په زړه پورې اړخونـه د لوسـتونکو مخې تـه ږدي، په ټولنه کې دزغـم، د کلتورونواومذهبونوترمنځ د تفـاهم اونږديکت پيغامونـه لـري او پـه عمـومی توګـه د يـوې انسـاني عامې عاطفې غوره ښکارندويي کولای شي.

زما پـه نظـرد روښـن لال ملهـواترا د دغـو پښـتوکيسـوچاپ د پښتوکيسـه ليکنـې د چـاپي لـړۍ لپـاره يـوه غـوره اضـافه ده اولوستونکي به وګوري چې د هند يو ليکوال پرهندي او افغـاني ژونـد د جـلااو ياګـډو اړخونوپـه اړه څـه ډول موضـوعات د سوژو په توګه ټاکې او څنګه يې ليکي.

د ملهوتره ژورنالستيک کارد آل انډيا راډيود پښـتو خپرونو په ښايست کې د ستاينې وړدی او دادی اوس يې د پښـتو کيسـو له خپرېدنګ سره، دغـه داستاني هڅـه هم پـه پښـتو معاصرو داستاني هڅوکې د يادونې او ستاينې وړ يو ګام دی.

په مينه

زرين انځور

کابل، ۱۳۹۴ل. دلينديږ د رېمه

۲۰۱۵ ع د ډسمبر۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ددې کتاب په اړه

هغـه مهـال چـې زه پـه آل انـډیا راډیـو کـې وم ، ښـاعلی روشـن لال ملهـوتره د پښـتو څـانګې مشـر و. کلـه کلـه بـه مـو د پښـتو لنـډو کیسو په اړه بحثونه کول. د بحث ډېره برخـه بـه دا وه چـې پـه هند کـې څـه ډول کیسـې لیکـل کېږي او پـه افغانسـتان کـې د کیسـو ډول څنګه دی؟ په همدې وخت به مهلوترا صیب ویـل چـې ده هـم د هندي لنـډو کیسـو څـو ټـولګې ژبـاړلي او پـه پښـتو یـې هـم یـو کتـاب لنـډې کیسـې لیکلـي دي. مـا لـه ښـاغلي ملهـوتره نـه دغـه کیسـې واخیسـتې او شـاه محمـود شـینواری تـه چـې هغـه مهـال زموږ همکار و ، ور کړې چې کمپوز یې کړي، چې وروسته بیا ما د ایډیټ په توګه څو ځله وکتلې او چـاپ تـه مـې چمتـو کـړې. پـه دې کې کابو څلور کاله تیر شول خو دغه ټولګه همداسې له چاپه پاتې شوه. په همـدې مـوده کـې د ښـاغلي ملهـوتره د ژبـاړل شـویو کیسو څو ټـولګې خپـرې شـوې. یـوه میاشت دمخـه راتـه ښـاغلي پوهنوال اسمعیل یون وویل چې دوی بـه دغـې ټـولګې تـه د چـاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمینه برابره کړي. د ښاغلي ملهوتره د غه تولګه ( مور ) تولتال اته کیسې لري او تاسې درنو لوستونکو ته یې دیوه پښتون هندي کیسه لیکوال دلنډو کیسو د نمونې په توګه وړاندې کوم. په پای کې له ښاغلي استاد یون او ملي تحریک نه ډېره مننه چې د غه کتاب ته یې د خپرېدو زمینه برابره کړه. له ښاغلیو شاه محمود شینواري او ضیاء الرحمن ضیاء څخه یوه نړۍ مننه چې ددې کتاب کمپوز او ډیزاین یې وکړ او همدارنګه ښاغلي ملهوتره ته دده د نوي کتاب د خپرېدو مبارکي وایم.

په درنښت

محبوب الله خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فحاشه

شینکۍ د زرین دور په دنیا کې سترګې پرانیستي وې، په کورکې یې د هېڅ شي کمی نه و. د مور او پلار د مینې نه واخله په هر د نیاوي رحمت هغه سمباله وه. د دریو کلونو له درشل نه لا اوښتې نه وه چې د یوې ناڅاپي ناروغتیا په اثر یې مور سترګې پټې کړې. د پلار پر سر یې د خپلې مېرمنې له غم سره سره د شپږو ورو -وړو ماشومانو پېټی هم پریوت. یو هم لا د پلار سره د لاس کولو عمر ته نه و رسېدلی. بیا هم د غم په دې توپان کې د شینکۍ د پلار اوښي د هغې تر ټولو مشره خور چې پنځلس کلنه وه په دغه وینا له ځانه سره خپل کورته بوتله چې ((جینۍ اوس هوښیاره شوې ده، د مور په غیاب کې چېرې څوک ورته څه ونه وایي، یا خطایي ونه کړي ، ستاسو نارینه وو په کورنۍ کې دا درسته ورځ تنها ناسته وي، هسې هم وزګار مازغه د شیطان کور ګڼل کېږي، زما سره به لاړه شي او هلته به د خپلې ترور په سرپرستۍ کې اوسي. موږ به هڅه کوو چې ژر تر ژره یې واده وکړو او ستا دا غم لرې کړو. )) د شینکۍ پلار د خپل اوښي په دغه خبره ډېر خوشاله شوی و او په ډېره خوښۍ یې ورسره خپله مشره لور لېږلې وه. امانت کې خیانت زیات وخت وانه خیست او دولس ورځې هم تېرې نه وې چې خبر راغی چې ((هغه مړه شوه. )) دا سې خبرې نه پټېږي، د کېشور د مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنګوسې د شینکۍ د پلار غوږونو ته هم را ورسېدې چې د د ریو ژوندیو ښځو مېږه ۲۲ کلن بوډا اوښي يې زړه ټینګ نه کړای شو او یوه شپه یې په کېشور باندې چاپه وکړه. کېشور ډېر مزاحمت او مقابله کړې وه مګر په پای کې د پت د تا لا کېدو نه وروسته ووژل شوه. د هر څه شاهده د شینکۍ ترور د مېږه د عزت و ابرو او د خپل ژوند د پاره لکه د ګونګۍ پخپله خوله غټه تیره کېښوده ، لاکین راز ، راز پاتې نه شو. د شینکۍ پلار دغه غم لېونی غوندې کړو ، چرس او بیا د هیروینو په څېر هرنشه یې څېز هغه د غم غلطولو وسیله وګڼله. له کاره ووت او کټ یې ونیولو. د شینکۍ ورور چې دولس کلن و د شاوخوا یو دوکاندار په هټۍ کې نوکري شروع کړه. دولس کلن هلک به په میاشت کې چې څه لږ ډېر ګټل نو د هغو لویه برخه به یې د پلار د پاره په هیروینو ولګېده. پاتې پیسې به د میاشتې د اوړو لپاره هم کافي نه وې خو د چم ګاونډ د ځینو ښو ګاونډیانو په مرسته او همدردۍ وخت تېرېدو. یوه ورځ د شینکۍ ورور فریدون له پلار سره په جنګ و (( دادا تا هم صحت خراب کړو او هم دې ټوله کورنۍ تباه کړه نو ولې دا نامراده نشه نه پرېږدې؟. په دې کې تا څه لیدلي چې بې له دې یوه ورځ هم نه شې پاتې کېدلی. یاخو بهانې کوې. دې درې ورو ورو ماشومانو ته ګوره، ماته ګوره، که سر پټه وو نو پښې مو برېنډ پرې. د دوه وخته ډوډۍ د پاره هم دنورو خیرات ته ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو. ایا له موږ نه هم تاته دا نشه ګرانه ښکاري؟ ستا دې په لوی خدای قسم وي که دې ورته لاس واچولو.)) له دې نه وروسته فریدون د کار لپاره وتی و. پلار یې د ماشومانو د بد وضعیت په خاطر په نس ډېر قابو راوست لیکن د هیروینو د نشې شدت دومره وځورولو چې په پای کې یې خپله مری، خپه (زندی) کړه او مړ شو. فریدون د پلار په مرګ ډېر زیات خپه او د لګیر و. هغه د دې لپاره هم خپل ځان ګرم ګڼلو. د خپګان او مایوسی په دغه حال کې هغه د دې ازمېښت د پاره چې دا نشه رښتیا دومره زوروره ده او که پلار یې د کورني جنجال څخه د تل لپاره د خلاصون په خاطر ځان ووژلو. د هغوګولیو نه چې د خپل پلار د پاره یې راوړې وې یوه راپورته کړه او د تیلي بلولو سره یې راښکله. فریدون هم نشې کوم بل جهان ته ورسولو، د هغه په نازک بدن باندې نشې پوره اغېز وکړو او ځان یې داسې حس کړو لکه مارغه چې الوزي. له دې نه وروسته فریدون هم یوه ګولۍ د ورځې راوړل شروع کړل. هغه هم اموخته شو. شینکۍ چې اوس لس - یولس کالو ته رسېدلې وه، د چم ګاونډ په کورونو کې یې څه لږ ډېر کار کول شروع کړل. دغه کار به ډېر معمولي و مګر شینکۍ چې ډېره خود داره وه داسې احساس کاوه چې ګاونډیان ورته خیرات نه بلکې د کار په بدل کې پیسې ورکوي خوا که لږې یا زیاتې وي. فریدون هم د پلار په پل باندې پل ایښی و، اوس هغه هم له کاره ووت. نشه کې به ډوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروت و او چې کله به يې لږ چورت ښه شو اوبدن به يې دردونه نه کول نو د کار لپاره به لاړلو. ورو ورو دغه سلسله هم قطعه شوه، په ژمي کې چې يوه ورځ سخت باران روان و او هغه د هيروينو راوړلو جرات نه شو کولی نو خپلې کشرې خور شينکۍ ته يې وويل ((شينکۍ ! ته له ما سره ډېره مينه کوې کنه؟ ګوره زما طبيعت ښه نه دی. نو لاړه شه د نواب کبابي دوکان ته. هغه ته به ووايې چې زما د ورور فريدون په وجود کې سخت درد دی. يو دوه پونۍ راکړه خو ګوره دا به چاته ښايې نه ، سمه به کورته راشې زما دردونه ډېر دي، هه دا واخله پيسې.)) فرمانبرداره شينکۍ د پلار په شان ورور امر ښکته نه شو غورځولی بس دومره يې وويل:((وروره ! زه دوا د قصاب له دوکانه راوړم، د ډاکتر مجيد شفاخانې ته ولې لاړه نه شم؟)) خو فريدون ورته وويل:((ما درته څه وويل هغسې وکړه. په ما د ډاکتر علاج اثر نه کوي. ځه ژر لاړه شه!)) شينکۍ هم په هغه پښو د نواب کبابي دوکان ته ورغله او دوه پونۍ يې ترې نه واخيستې او بېرته روانه شوه. لا څو قدمه هم نه وه تللې چې هلته د يو دوکان د څپرکۍ لاندې له بارانه پټ ولاړ يو پوليس چې شينکۍ يې د کبابي له دوکان نه د پونيو اخيستو لو په وخت کې ليدلې وه، راوبلله او ورته يې وويل:

- ستا لاس کې څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هېڅ

- وښایه دا لاسونه دي.

- دا خو دارو دي زما د دادا لپاره.

- دارو؟

او بیا پولیس شینکۍ له ځان سره څارنوالۍ ته بوتلله. بې له زیاتو پوښتنو فقط د وهلو او ټکولو د ډار په واسطه د څارنوالۍ څو ظالمو څارندویانو له شینکۍ سره درسته شپه لوبې وکړې او درې څلور شپې وروسته یې د مخدره موادو د ساتلو او خرڅولو په جرم د اته کالو په بند محکومه کړه. په زندان کې د شینکۍ ژوند په ډېرو مشکلاتو تېرېدو. یوه یوه ورځ ورته د کال نه هم اوږده ښکارېده، د بندي خانې د ظالمانو، قاتلانو، داړه مارو او ترهګرو په سترګو کې دا له هغوی نه هم زیاته ګنهګاره وه. د بند په پنځمه میاشت د هغې ګېډه راوتې او هر مجرم به د هغې په لیدلو بل ته اشارې کولې او سرخوځول شروع کړل. دا هر څه له شینکۍ نه پټ نه وو. ورځې تېرېدې او په اخرکې شینکۍ بې له وادہ د یو هلک مور شوه. د شینکۍ د اولاد په زېږېدو نه چا ډمامه ووهله او نه چا ډول (سورنۍ) و غږول. ځینې تورنې ښځې چې د هغې له حاله خبرې وې په زړه زړه کې وژړېدې. په دوه کلنۍ کې هغې په محبس کې خپل ماشوم ته زده کړه شروع کړه. بل پلو د شینکۍ ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library

فریدون د هغې د ورکېدو وروسته د اسې بدل شو چې بیا یې د نشې نوم هم و انه خیست، هغه د خپلې خور د حشر د پاره خپل ځان ګرم ګڼلو. د ډېرې خوارۍ او زیار وروسته د پولیسو مفتش ګرځېدلی و. څو ځله بندي خانې ته هم تللی و خو هغه هېڅکله هم له خپلې خور سره مخامخ شوی نه و او که سره مخامخ شوي هم وای کېدای شو خپله خور یې نه وای پېژندلې. د لومړۍ شپې د ناکردو او د ظلم خاطرو شینکۍ د ټانتې نه هم زیاته وچه کړې او رنګ یې تک تور شوی و. د هغې سترګې ټاغې راوتې وې چې سرۍ به ترې وبرېدلو. د شینکۍ په اړه د کور کلي د ټولو خلکو ګمان دا و چې ښایي د کومو ډزو په منځ کې را ګیره شوې او وژل شوې وي. د اتو کالو له بند نه وروسته چې شینکۍ یو سهار د بندي خانې د لویې دروازې نه خپه را ووتله نو اوه کلن زوی هم ورسره و. هغه نه پوهېده چې کومې خوا ته لاړه شي. په سوچونو کې ډوبه وه د ښار پر سړکونوها خوا دې خوا وګرځېده. د زوی د پاره یې دا هر څه بېخي نوي وو. هر څه ته به یې په ډېر تعجب او حسرت کتل، لمر ژېړ شو خو د سر د سیوري په غم کې ډوبې شینکۍ د خپل ځان نه بلکې د خپل زوی لپاره هم څو څو کرته فکر وکړو. هغه لړه ډېره زده کړه کړې وه خو د موجوده قوانینو په اساس یې نوکري نه شوه کولی، ځکه چې دا هغه حالت و چې د ښځو په نوکرۍ بندیز و. که کورته بېرته وګرځي ورونه او خویندې به یې زوی قبول نه کړي. هیڅوک هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوې تنها ځوانې ښځې ته په خپل کور کې ځای نه شي ورکولی. خیر خیرات موندل اوس اسانه نه و، خلک پخپله تش خانک ته ناست وو. که ځان ووژني زوی به یې څه کوي، که هغه هم له ځانه سره ووژني نو د هغه معصوم څه ګناه ده. هغه په ټولو بېلابېلو لارو چارو د غور او فکر تر منځ په چوک کې ولاړه وه چې سترګې یې په مخامخ ولاړ یو زلمي پرېوتې چې له ډېره وخته یې دې ته کتل. شینکۍ پرېکړه وکړه چې د زوی د ژوند د پاره به د جسم فروشۍ (فحاشۍ) دنده خپله کړي او هم په هغه وخت یې مخامخ زلمي ته اشاره وکړه. زلمی راغی او د شینکۍ ترڅنګ ودرېدو، د شینکۍ زوی د غه نوي خپلوان ته په ډېرو عاجزو سترګو و کتل. زلمي خبرې پیل کړې:

- زه له ډېره وخته لکه د سیوري در پسې روان وم.

- جي؟

- ما چې یو ځل ستا سترګې ولیدلې. بیا مې ځان قابو نه کړای شو.

- جي ؟

- زه ستاسو څه خدمت کولی شم؟.

شینکۍ لکه د خوبه چې راویښه شوې وي. سر له یې ټکان ورکړو. هغې د سر پړونی پور ته کړو سترګو کې یې نه لاچاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه او نه بې وسي. سترګې يې لکه سکروټه تکې سرې وې. د لږ وخت له چوپتيا نه وروسته يې له جېب نه يو لوټ را ويستلو او زلمي ته يې ور وړاندې کړو. ((وروره ! ما ته د مخامخ دوکان نه زهر راوړه )) د هغې فيصله بدله شوې وه. زلمي هک پک د شينکۍ د لاس لوټ ته کتل چې په دې کې د پوليسو يو ګاډی هلته ودرېدو. دوه درې څارندويان ورڅخه ژر ژر را ښکته شول. دوه څارندويان راغلل او شينکۍ يې له متهه ونيوله. لرې ولاړ دربېيم څارندوی شايد د هغې مشر و. په ماښامي تياره کې له ونې او څېرې نه د فريدون په څېر ښکاريدو. شينکۍ د فحاشۍ په تهمت ونيول شوه. د هغې زوی ډيرې چيغې ووهلې. هغه د پوليسو نه د خپلې مور د راخلاصولو په خاطر پوره وس وکړو خو ځای يې ونه نيو. شينکۍ هم د مات وزرې مرغۍ په څېر بيا بيا په خپل زوی پسې د ځان رسولو غوټې ووهلې مګر هغه د څاروندويانو له خوا په موټر کې لکه پنډوکی ورټېل وهلی شوه. موټر پوره رفتار نيولی لاړ. د شينکۍ زوی هم هلته په ځمکه پروت لتې ټکولې او تر هغې پورې يې په موټر پسې کتل چې په دوړو کې ښکارېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کافرانو خدای

هوسۍ د مهاجرو د کمپ په یوه خیمه کې د یوې تتې ډیوې لاندې ناسته وه او وچه کړسه ډوډۍ یې د اوبو په زور له ستونې تېروله. بیا بیا به یې د کابل خپل کور مخې ته ودرېد چې دا وخت به ډاکتر حسین له روغتون څخه بېرته راګرځېدو، شپاړلس کلنې لور به یې ور پرانیست، مخ لاس به یې وینځل، تلویزیون به ولګول شو، دوی به د ډوډۍ خوړلو ته لویې کوټې ته ورغلل، خدمتګارې به د ډوډۍ پر مېز هر څه تیار ایښي وو. دوی به کېښناستل، هم هغه انګلیسي طرز درې څلور ډوله (کورس) ډوډۍ به وه. لومړۍ به ښوروا راغله، بیا د میوو او سبزو سلات او وریسې به د تناره وریت چرګ یا غوښه وه، البته د میوو جوس لازمي و، ځکه زمانه بدله شوې وه او اوس د پیالو کړنګ کړونګ..... هرڅه منعه وو. په تلویزیون د خبرونو، وعظونو، تلاوتونو نه پرته بل هېڅ نه اورېدل کېدل د شپې د ډوډۍ په وخت به پر عمومي توګه خبرونه وو چې دوی به هم اورېدل او په خوند خوند به یې د خبرو اترو او خندا او خوشالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په منځ کې ډوډۍ خوړله. د هوسۍ مخې ته به چې هر وخت کمپ کې په تالي کې دوه درې وچې ډوډۍ، یو نیم په نوم اینګلی یا داسې پیتي چې لامبوزن ورکې که لامبو هم ووهي مګر خبر به نه شي، چې کومه دانه لري او که نه؟ دا به ورته په ځیر شوه نو د خپل کور خوږه منظره به ورته په یاد شوه، ځو ځو ځلي یې په خپلو مغزو زور واچلو چې دغه بدبختانه زړې منظرې یې له ذهن نه پاکې شي او د اوسني حالاتو سره په امن او سېدو ته یې پرېږدي لېکن په دې هکله د هغې ټولې هڅې ناکامې شوې وې. ډاکتر حسین برتانیا کې د طب زده کړې سرته رسولې وې او هم هلته یې د هوسۍ سره چې د طب په پوهنځي کې نوې نوې داخله شوې وه پېژندګلو وشوه. خوا که موږ په خپل کور کې د خپل ورور او خور سره تر ځو ورځو کومه خبره ونه کړو او ددې کمښت مو چېرې هم ذهن ته رانه شي مګر څه وخت چې موږ د خپل وطن نه لرې لاړ شو، د خپل خپلوانو ، دوستانو او عزیزانو څخه لرې ډېر لرې د پردیو په بیړو ورګډ شو نو خپل ځان راته ډېر لاچاره، ډېر بې ځوکه او ډېر تنها رابښکاره شي. په داسې وخت که د خپل وطن یو انځور هم ووینو نو تر ساعتو ورته په ځیر ګورو. که د خپل هیواد پمن سپی هم ووینو نو زړه ته یې نږدې کوو. له خپل وطن سره د مینې احساس هم په دغه وخت کېږي. وطنوال خو د لرې خبره ده که چیرې د شاوخوا هیواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې وګړي هم په سترګو راشي لمن یې کلکه نیسو، همهغه زموږ غمخور، زموږ وروړ، زموږ همدرد او زموږ خواخوږی شي. که څه هم هوسۍ کندهارۍ وه او حسین د کابل و مګرد دواړو نیږدې کېدل طبعي وو. دوه ورځو کې دواړه یو بل ته دومره نیږدې شول لکه چې د کوچنیوالي نه یو بل سره پیژني. حسین کابل ته د بیرته ورګرځیدو څخه مخکې دواړو د خپلو خپلو کورنیو په رضا د دوستانو او ملګرو په یوه محفل کې نکاح وتړله. دري کاله وروسته چې هوسۍ هم بیرته هیواد ته راستنه شوه نو کابل کې مېشت شول، دواړو په یوه روغتون کې کار کولو لیکن د سیاسی حلاتو د بدلیدو څخه وروسته هوسۍ لکه د نورو ښځو له کار څخه منع شوه. هغه په کور کیښنا ستله یو نیم کتاب به یې لوستلو لیکن ډاکټري چې د هرې ورځې ازمیښتونه او تجربې غواړي، د هغې له لاسه ووتل. هوسۍ ډوډۍ خوړله او که نه هیڅ پوهه نه شوه لیکن چې تالي ته یې کتل هغه به تش و.

داسې ورځو او شپو کې چې اوږه لامده شي اکثر د انسان د مخې نه یا پیشو ډوډۍ وتښتوي یا په تالي کې غوړګۍ نه چرمخکۍ راولویږي، البته د هوسۍ تالی تش و. پاڅېده لاسونه یې ومینځل او د خپل لمن سره یې وچ کړل. اوس هغه وختونه نه وو چې دوی به د لاسپاک سره لاسونه وچول او بیا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې کريم مګلو. د هوسۍ ټول ټال، مال ملکيت په يوه بکسه کې بند و. څو جوړې کالي ، يوه جوړه پيزار ، يو پاسپورټ ، د سمال کې غوټه يو څو روپۍ او يو څو نيم سوي کاغذونه..... هغې خپله بکسه خلاصه کړه د هر څه نه اول يې همغه کاغذونه راوويستل ، ورته يې په ځير ځيروکتل، سترګې يې ډکې شوې ترمې اوښکې يې په سوې څېره ښکته را وبهيدې د کاغذ دپاسه. هغې سمد ستي د هغه کاغذ د پاسه خپل لستونړی کيښود او اوښکه وچه شوه. د وخت تيريدو سره د بنيادم هره اوښکه همدغسې وچيږي ليکن ځينې پرهرونه د تل لپاره شنه وي، هغه نه په وينبه موږ ارام ته پريږدي او نه په خوب کې. د هوسۍ نيم سوي کاغذونه همهغه پرهرونه وو چې تر مرګه د هغې له ذهن څخه وتوکي نه وو. بيا يې په هغه مجله کې سمبال کيښودل له کومې چې را ويستلي وو. هوسۍ د کمپ د زرګونو ښځو، نارينه وو ، سپين ږيرو ، تورو سرو او زلموټو ځينې وه چې د افغانستان شرايطو خپلې خاورې خپل کور، خپل کلي او وطن هر څه پريښودو ته مجبوره کړي وو. ټول به درسته ورځ ځای په ځای ډلې ډلې ناست وو ليکن هيچا به د بل سره خبره نه کوله، د ټولو په څېرو کې يوه عجيبه مايوسي ښکاريده د ټولو ايکي يوه کيسه او ايکی يو داستان وو. په هر کور کې مرګ ژوبلې شوې وې ، مرګ ژوبلې هم د زړو نه بلکې د شنو لښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې داسې ځوانان وو چې د ځوانیمرګ ښکنځا یې له خلکو هېره کړې وه. هر یو د خپل خپل کور د ملا تیر و. د هر یوه کیسه بس د هغه مخ ته په کتو معلومیدله. لکه تیرې به یو بل ته مخامخ ناست وو چې له دوی ځنې یوه هم هوسۍ وه. د وخت بادارانو د هغې لور هم ورسره نه وه پریښې ، د نورو مهاجرو په نسبت هوسۍ فقط دغه توپیر درلوده چې هغې تل د ځینې ځیرې تکل کاوه. د یوې داسې ځیرې چې د هغې د میړه په وینو د لړلي نیم سویو کاغذونو عبارت ولوستل شي، لیکن تر دې وخته هیڅوک ورته داسې برابر نشو. عبارت ځینې فارسي یا عربي نه وو ، بلکې کوم بل ډول و. هغې یو سوړ اسویلی وکړو او مخامخ د تمبوانو نه ګرد چاپېره په لوبو بوخت ماشومانو یې سترګې ونښتې، څومره ښه عمر وي د کوچنیتوب ، نه غم نه فکر بس خوراک څښاک مستي، لوبې او خندا او خوشالي. لیکن افسوس افغانستان کې له ډېر وخته ځینی ماشوم نه زیږیده ، بس پلرونه زیږیدل چې د سترګو پرانستلو نه مخکې یې په تندوباندې لوړې ژورې او په سترګو کې د نه ختمیدونکي تشیال ننداره کیدله. د هوسۍ هغه وخت رایاد شو چې د روغتون د هغې د اطاق نه بهر په تختږې (لوحه) ثبت وو(مېرمن هوسۍ شاهنواز حسین سیلمان خیل ... ایم بي بي ایس لندن) د اطاق نه بهر په بینچ د ناستو مریضانو صحنه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې مخې ته وګرځېده چې څه وخت به دا د جراحۍ د خونې څخه په بيړه د مريضانو د معاينې لپاره خپل اطاق ته ورننوتله نو د بهر خلکو ناست ګنګوسې به يې واوريدې چې ( ګوره ډاکټره صاحبه دا ده راغله ) ( ښه !دا ډاکټره ده ډيره وړه ده ) (ياره خو خداى يې په لاس کې ډيره شفا اچولې ده ) او داسې نور. د هغې ذهن ته د نيمې شپې د دوه بجونه پس هغه عکس هم روښانه شو چې يو ټوپکوال د اوږې سره دوه ټوپکونه زوړند کړي وو چې بيا وروسته معلومه شوه د جهاد ننګيالى دې راوستى و. دوى په ډيره ويره هغه وخت ور پرانستى و ، کله چې ورته ښه باور ورکړاى شوى و ، چې هغوى ځيني شوقماران ، داړمار يا وژونکي نه دي، د دين سپيڅلي جنګيالي دي چې يو په پتون په ګولى لګيدلى دى. د هغې ميړه ډاکټر حسين او دې دواړو په شريکه د ژوبل د پتون څخه مرد کى ويستلو ، چې په دغه وخت هغه دومره روړې ( چغې ) وهلې وې که عادي حالات وى نو د ټول چم خلک به راغونډ شوي واى. له درد څخه د ټپي د خيال بل پلو ته د ګرځولو په خاطر ډاکټر حسين د هغه څخه پوښتلي وو چې دا څنګه ټپي شوى؟ هغه ورته په ځواب کې کله د يو او کله ورته د بل حزب لپاره د جنګيدو او دغسې د ټپي کيدو کيسې کړې وې. د مردکي د ويستل کيدو نه وروسته د هغه په خبره د بخو خولو غټ غټ څاڅکي راښکاره وو او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګوټ اوبو د پاره لپه نیولو اشاره کړې وه. ډاکټر حسین لاسونه وو ینځل د هوسۍ لاسونه لا ککړ وو. لیکن خپلې لور ته یې چې هیڅ کله هم د کوم نارینه مخې ته نه وه ورغلې د اوبو راوړلو د پاره غږ کړی و. نانځکه چې له نانځکې هم ښایسته وه اوبه ورته را وړې وې او چې ژوبل جنګیالي ته د ورکولو نه وروسته بیرته وتله نو هوسۍ ته د ولاړ بل عسکر هغه ګنګوسه هم وریاده شوه چې ویلي وو (ثیز خو ډیر ښه دی... څه خیال لرې ؟) او بل جنګیالي په نه سر خوځولی و.

هوسۍ بلاخره خپل هدف ته ورلنډه شوه او یوه ورځ د پاکستاني کمپ څخه په څه ناڅه چل ووتله او هند ته ورداخله شوه، هغه باوري وه چې د هغې نیم سوي کاغذونه فقط هند کې لوستل کیدلی شي ځکه چې د سانسکریت پوهه ادیبان هند کې په اسانه پیدا کیدلی شي، بې له کوم خطره. هوسۍ ناپوهه یا بې سواده ښځه نه وه. د دغه راز کاغذ په ارزښت او حساسیت ښه پوهیدله ، هغې هر چاته دا نشو ښودلی او بیا په هند کې چې د مذهبی لیونو شمار ورکې ښه پریمانه دی او په معمولي پیښنه هم دا راز شیان په باروتو د بڅرکي کار کولی شي د ډیر احتیاط اړتیا وه. هوسۍ نیغه ډیلی ته را ورسیده، ډیلی د انسانانو میږتون دی، نه د شپې سر کونه تشیږی او نه د ورځې لیکن هوسۍ ته دا بیخي یوه سحرا غوندې ښکاریدله ، د ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

محلي خلکو څخه يې د سانسکريت د کوم پوه او عالم په اړه پوښتنه وکړه ليکن هيچا ورته کوم ښه سرې پيدا نه کړای شو. يوه ورځ سحر چې په لاره تيريده نو د يو معبد نه بهر همهغسې عبارت يې وليد ، سمدستي د مندر وره ته ورنيږدې شوه ليکن له دې ډاره چيرې بې دينه نشي او مسلماني يې له لاسه لاړه نه شي ، مندر ته داخله نه شوه، دننه ځينې ديني مناجات لوستل کيدل. هوسۍ يوې ښځې ته چې لرې لرې په انګليسي پوهيدله د مندر د پير سره د ليدو غوښتنه وکړه. پير چې په مراسمو بوخت و تر ډيره وخته بهر را ونه وتو ليکن هو سۍ د دې کار لپاره درست عمر انتظار کولی شو ، پوره يو ساعت وروسته پير رابښکاره شو ، هوسۍ چې د بهر د سړک پرغاړه ناسته وه جيګه شوه، د هغه هر کلی يې وکړ او ځينې ګوښه ځای کې د خپل کاغذ د لوست خواست يې ورته وکړو. د هوسۍ غمجنې څيرې ورکو سترګو کاواکو خبرو پير مجبوره کړو چې يو څنګ ته ورسره لاړ شي ليکن هوسۍ هغه له خپله ځانه سره د هوټل خپلې خونې ته بوتلو. په ډيره ويره ويره خپله مجله له بکس څخه را وويستله او ويې ويل ( پنډت جي ! زه لکه ستا لور يم.د دې کاغذ لوست زما د پاره زما د ژوند نه ګران دي، زما ټول ژوند په دې تکيه لري، که په دې کې زما کومه خطا وي نو زه د يوې لور په حيث اول تاسي نه بخښنه غواړم) او بيا نيم سوی کاغذ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنډت جي (پیر) په لاس کې کېښود، پنډت د کاغذ لاسته په ورتللو پوښتنه وکړه (دا خو سوی دی ؟دا د څه سره ککړ...؟ )

-هوسۍ: زما د میږه وینه.....

-پنډت جي: رام رام رام رام....

او پنډت جي هغه کاغذ سمدستی ښکته وغورځولو لکه چې هغه کاغذ نه وي بلکې مار چیچلی وي. هوسۍ ته یې په ډیر قهر وکتل ځکه په وینو لړلي کاغذ د پنډت جي مذهب او عقیده خرابه کړې وه، لیکن د هوسۍ د عاجزی په لیدو ویښ شو او له ورایه یې کاغذ ته په کتلو فیصله وکړه.

-پنډت جي: دا سانسکریت نه دی دا زه نشم لوستلی.

او ددې سره د هوسۍ د امیدونو ماڼې ښکته را ولویده او س به نو چاته مراجعه کوم. هغه په کټ کېښناستله او پیر د خدای په امانی سره له کوټې ووت. هوسۍ د سوچونو او فکرونو په زانګو ښکته پورته کېدله مګر او س یې چاره هم نه وه. هوسۍ ماتې قبلولو ته هم تیاره نه وه، په افغانستان کې زیاتره لرغوني اثار د بودایي دور دي، هغې تصمیم ونیولو چې یو بودایي مرکز ته به ورشي او هلته به د بودایي مذهب راهب (پیشوا ) کومک ترلاسه کړي او په بله ورځ هغې یو بودایي مرکز ته ځان رسولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

و. زیړو جامو کې نغښتي راهب ته ناسته وه او هغه ورته ویل چې: بچوړیه ! دا نه بودا یي ژبه ده ، نه تایې او نه تبتي. دا راته ښکاري چې ګورمکي ده. ګورمکی د سیکهانو د مذهبی کتابونو ژبه ده. بودایي راهب د هوسۍ په زړه کې د امید او هیلو یوه وړانګه روښانه کړه، هغې ته سمدستي وریاد شول چې د دوي د کور نه لرې لرې د سیکهانو یو درامسال هم و، دا به حتمي ګورمکي ژبه وي. د امید په دغه ځادر پټه هوسۍ د خپل هوټل په لور روانه شوه ، د خپلې خاورې کلي ، د خپلې لور ، د خپلو خلکو د کور او شاوخوا منظرو د هغې زړه په لومړي ځل و درد ولو. هغې سوچ وکړو ( دا ولې ؟) ((دا څوک دي؟ ولې یې زموږ سره داسې دښمني وکړه ؟ ایا موږ پخپله ددې ګرم یو ؟ ترڅو .... ؟ تر کومې...؟ موږ خو ټول تباه شو ، له مرګه وروسته خو د مرضونو چینجی هم دو جود نه وتښتي، اوس زموږ سره څه پاتې دي؟ دا هډوکي هم راته خوري. ؟)) د دغه کشمش سره هوسۍ څه وخت هوټل ته ورسیده، څه وخت یې ډوډۍ وخوړله او کله یې سترګې بندې شوې، هیڅ پوهه نه شوه، لیکن په بله ورځ چې تر دولس بجو ویښه نه شوه نو د هوټل نوکر ورو ډبولو او دا یې ویښه کړه. نن هغه باوري وه چې د هغې د نیم سوېو کاغذونو عبارت به ولوستل شي. ژر ژر تیاره شوه ،مجله یې بیا تر څنډې ونیوله او وتونکې وه چې هوټل واله چای یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهارنۍ ناشته راوړله. هوسۍ د هندي فلمونو نه څه ناڅه هندي هم زده کړې وه. د هوټل واله هلک څخه یې ورو غوندې پوښتنه وکړه:

- هوسۍ: بهیا، دلته د سیکهانو ټیمپل شته؟

- هوټلواله: ګوردواره میم صاحب؟

- هوسۍ: بلې بلې ګوردواره.

- هوټلواله:: لویه که وړه؟

- هوسۍ: نه ښه غوندې چې یو ښه پریسټ ( ملا ) هم ولري.

- هوټلواله: ملا نه بهن جی! د ګورد وارې پیر ته پایجي وايي.

- پایجي خو هره ګوردواره کې وي.

- هوسۍ: ټول په ګورمکي پوهیږي؟ که هسې یې یاده وي.

- هوټلواله: دا خو راته نه ده معلومه، لیکن دلته خو په څنګ کې یوه ښه غټه ګوردواره ده، ماتا سوندري، هلته خو ډیره بیړه نه وي لیکن ګورد واره ډیره لویه ده او تاریخی هم راته ښکاري.

هوسۍ د همدغه شان ځای په تکل کې وه، هغلته به هرو مرو یو پایجي پیدا کیږي. په دغه هیله هغې یوه اټو ریکشه ونیوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ورته د ماتا سوندري ګوردوارې ته د تګ په اړه وویل. لس دقیقو کې ریکشه د ګوردوارې مخې ته ورسیده. هوسۍ د ریکشوان په لاس کې د پنځوس روپو لوټ کېښود او بې له سوچ او فکر سمه ګوردوارې ته داخله شوه د هغې نه هیر شوي وو چې دا کوم ځای ته روانه ده ایا دغلته به د هغې دین او مذهب په ځای پاتې شي او که نه ؟ لیکن چې زینو ته ورختله هغلته یې یو سپین ږیری سیکهـ چې سپینې جامې یې اغوستې او یو سپین پټکی یې تړلی و. دې ولید او ترې یې پوښتنه وکړه:

-بهایي جي، ... دلته پایجي چیرته پیدا کیږي؟

-بهایي جي: ولې څه خبره ده ؟

-هوسۍ: زما یو ډیر ضروري کار دی.

بهایي جي: لورې ! هم زه پایجي یم وایه څه خبره ده ؟

هوسۍ ورته لږ لرې د وړاندې ونې په لور د تګ غوښتنه وکړه او هلته یې د مجلې څخه سوې پاڼه را وویستله او د هغه په لاس یې کېښوده. پایجي تک سور شو لکه اور د پاڼې په اخیستلو یې ( واحدګورو... واحدګورو ... واحد ګورو ... ) وویل کاغذ یې ښکل کړو او لاس یې سمدستي د اوږې سره ځوړندې چړې ته ورغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-پایجي: چا کړې ده دا ناروا ه؟

د هوسۍ د خولې د ویرې او ډاره فقط ناڅاپه ووتل ((مانه ده کړې... ))

په سلګو شوه ... چې ښه یې وژړل او غریب یې مات شو نو ولاړ پایجي یې په سر لاس کیښود او ورته یې وویل: ها بچیه دا د چا کار دی؟.

هوسۍ خوله پرانستله لیکن لکه چې ژبه یې چا نیولي وي له خولې یې هیڅ ونه وتل. پایجي د هغې په اوږه لکه د یو مهربانه پلار لاس کیښود ، مخامخ خونې ته یې بوتلله او به یې ورته را وړلې، لږه د لاسه یې ورته وکړله او بیا یې ترې پوښتنه وکړله: بچیه دا د کوم ځای پیښه ده ؟ د هوسۍ په وړاندې د خپل هیواد منظره رڼا شوه هر خوا اخ و ډب، خوف او ډار ژړا او انګولا ، وژنې، قتل او غارت. هغې ته ورځیني نوي نوي اعلانونه ،نوې نوې جزا ګانې، نوي نوي امرونه، کله د ښوونځیو او کله د مدرسو بندیدل، کله په راډیو او تلویزیون بندیزونه ، کله د ږیرې او کله د ستر او د ښځو په زده کړود بندیز اعلانونه هر څه وریاد شول. د هغې مخې ته هغه منظره هم ورته ودریده، چې د کابل ښار نه اتیا کیلو متره لرې د یو بم په چاودنه کې دیارلس طالبان شهیدان شوي او ګڼ نور ټپیان شوي وو. هغې ته ور په

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاد شول چې څه وخت د هغې مېړه په سره غرمه کې پاڅول شوی او روغتون ته بوتلل شوی و ، چې د ټپیانو درملنه وکړي. هغې ته ښه ور په یاد شول چې په دریمه ورځ ماز دیګر په بیرته را ګرځېدو د هغې مېړه ډاکتر حسین ویلي وو چې ټول ټال اتلس نفره وو ، ځیني لږ ژوبل وو خو پنځه نفره په مخ بد بد سوي وو. د یو د ژوندي پاتې کیدو امکان هم نه و لیکن پاتې څلور که خدای کول نو بچ به شي. مخونه یې بیخي سوي دي ، درې نیم یا څلور کاله وروسته به د پلاسټیک د عملیاتو سره بیخی ښه شي. هوسۍ ته بیا هغه وخت هم ورپه یاد شو چې دوی ټول د شپې د ډوډۍ لپاره ناست و ، په تلویزیون خبرونه راتلونکي وو ، دوی ډوډۍ شروع کړې او دوه درې مړۍ یې هم لانه وې کړې چې خبرونه شروع شول، مړۍ د دوی په لاسونو کې وه. د بامیانو د بودا مجسمه والوزول شوه. دوهمه مجسمه هم ونړول شوه. د موزیم مجسمې، بوتان، کتابونه، اثار، لوخي، لرګي، هر څه چې د تاریخ سره یې کومه نیږدې یا لرې اړیکه درلوده مات ، ځیري او وسوزول شول. ښار کې چار چاپیره د دین او مذهب په نوم د کفر او جهالت د خاتمی په نوم یو توفان روان و ، د الله اکبر نارې او انګازې وې، خبرونه لا روان و چې په دې کې چا ور وډبولو ، ډاکر حسین مړۍ په لاس له ګریوانه ونیول شو په زور یو ګاډي کې ور ګوزار کړی شو او له ځانه سره بوتللی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوسې او د هغې لور ډېرې ژړاوې او انګولاوې وکړلې لیکن هیڅ وانه وریدې، بله ورځ یو اطاق کې فیصله صادره شوه، په حسین د څلورو دیندار طالب جنګیالیو د داسې علاج تهمت ولګول شو چې د هغوی د علاج د څلورو میاشتو وروسته هم ډېره نه وه راختلې او اوس د ډېرې د راختلو امکان هم نه و. دا د حسین چې په انګلیستان کې یې زده کړې کړې وې د سپین پوستو سره د دسیسو لومړی نښه وه. دوهمه ګناه یې د ښارندویانو لخوا د محاکمې لپاره د راوستلو په وخت په ټلویزیون د دښمن د عناصرو یانې د بی بي سي د خبرونو د اوریدو وه، دواړو تورونو (تهمتونو) د پاره حسین ته په بله ورځ په څلور لارې کې په ګولې د ویشتلو امر شوی و. هوسې ته ور په یاد شول چې څه وخت هغه څلور لارې کې د حسین د ویشتل کیدونه وروسته یوه چیغه وهلې او په منډه ښکته په ځمکه د را پریوتې د حسین د وجود پلو ورغلې وه نو هیڅ څوک هم نه وچې د هغې خواته ورغلي و، حسین لاس او پښې پرچکې وهلې، ګولې، د هغه د سینې نه پورې وتې وه، د تودو وینو شرهار روان و هغلته لږ وخت مخکې د مات کړای شویو بوتانو رنګ کړای شوو مجسمو ټوټې او خیري شوي اثار خواره واره پراته وو، یو څو کاغذونه چې لا اوریې نه و مړ شوی، هغې راپورته کړي وو چې د خپل میړه په پرهر یې ولګوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ټکور یې کړي. څه وخت چې هغې هغه نیم سوي کاغذونه د خپل میړه په پرهر ایښی و خدای خبر چې هغه ساه لرله هم او که نه، لیکن هوسۍ خو خپل وس کاوه. د کاغذ د تودې ایرې په حسین هیڅ کومه اغیزه ونه شوه لیکن هغلته خدای خبر چې له کومې را نازل شوي یو ملا د قاضي چوکۍ نیولې وه او دیو مات بوت په سر ناست دغه پریکړه یې اورولې وه: دا دې بې پټه او لوچکې ښځې څه وکړل؟ د کافرانو د کتاب په پاڼو یې د یو مسلمان پر وجود ټکور ولګولو، دې خو زموږ مړي هم مردار کړل، هغه یې هم مرتد کړو، اوس دده د پاره نه موږ د جنازې لمونځ کولی شو او نه دوعا، بې د خدای د نوم دی به نیغ دوزخ ته ځي. او ای ښځې! که ته د دین او دنیا ثوب غواړې نو سمد ستي دی طلاق کړه. هوسۍ ژر ورمنډه کړې او هغه (غیردیني) نیم سوي کاغذونه یې د خپل میړه د وجود څخه لرې کړي و. شاوخوا اوس هیڅوک هم نه و. هوسۍ نیم سوي کاغذونه پخپل موټي کې کلک نیولي وو او چې کورته بیرته را رسیدلې او لږ په هوش راغلې وه نو هغه کاغذونو ته یې پام شوی و. هغې د ګوردواري پایجي ته وویل:

- بابا! فقط په دې پوهیدل غواړم چې په دې کاغذونو کې څه لیکلي دي؟ ایا زما میړه به.... ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د سیکهانو پایجي چې تر اوسه بیخي ګونګ ولاړو. سترګې یې پټې کړې ،ورو غوندې له ځانه سره وبنګید ، خدای یو دی، هم دهغه نوم حق او صداقت دی، د دنیا هرڅیز د هغه د امر تابع دی، هغه نه د چا څخه ویره لري او نه د چا سره کینه. هغه نه کوم شک لري. نه د کوم صورت نه زیږېدلی او نه مري. انسان د خپل پیر په مرسته د هغه د حصول هڅه کولی شي.

پایجي ورو غوندې سترګې پرانستې، نیم سوي کاغذونه چې په وینو لړلي و ښکل یې کړل او بیا یې وویل ((لورې واوره په دې کې چې لیکلي دي، اي د لاچارو او د غریبانو تکلیفات او درد او غم رفعه کوونکي خالقه ! ته کامل یې ، ته مکمل یې هم ته یې د بې کسو مل او مرستیال، تاته پنا غواړم ، زما مرسته وکړه ، زما کومک وکړه ، ته د ټولو عاجزانو رفیق او ملګری یې ، ته د درد او غم رفعه کوونکی یې ،هم ته د هر چا له زړه نه خبر یې، هم ته د هر چا په زړه کې اوسې، ته د هرچا خالق، ته د هر چا بادار یې ، هیڅ څوک له تا بر نشته ، هغه وخت چې مور، پلار ، زوی ، رور، همزولی، مل ، لمسی ، کړوسی ، هیڅ څوک به هم ستا تر څنګه نه وي او ته به یک تنها یې، په هغه وخت کې به فقط دا یکی یو خدای نوم ستا مل وي. هغه وخت چې اسرافیل به ستا وجود را پورته کوي نو ته به یوازې یې، فقط د الله نوم به تاته ډاډ او راحت در رسوي. هغه وخت چې ته به د لویو لویو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشکلاتو تر منځ را ګیر یې ، د وتلو هیڅ لاره به نه مومې ، د خدای د نوم په یادولو ستا ټول کړاونه به د سترګو په رپ کې پنا شي، ته که هرڅه د مجسمو او بوتانو عبادت وکړي لیکن ستا د واړه مصیبوتونو او کړاونو خاتمه یوازې د هغه د نوم په یادولو سره کیږي. یا ربه ! زما ټوله تکیه هم په تا ده، فقط ته زما مل یې زما مرسته به کوې. ))

د ګوردوارې د پایجي سترګې پرانستې وې لیکن هوسۍ په فکرونو کې غرقه وه. هغې سوچ کولو چې ایا د مسلمانانو خدای به د نورو د خدا یانو نه جدا وي.؟ ایا که خدای د رب په نوم یاد کړای شي ، موږ به دوزخیان شو.؟ موږ به کافران شو؟، د ګورد وارې نه د حمد او ثنا داسې اوازونه اوریدل کیدل:

-ځوک وایي رام رام ،ځوک وایي خدای.

همدغو فکرونو کې هوسۍ بیرته روانه شوه، د هغې په ځیره د ډاډ او تسکین یوه وړانګه لیدل کیدله چې د میړه په پرهر یې هم د خدای د نوم ټکور لګیدلی و .. د کافرانو د خدای...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پرتوګانې

زوی یې له دوو میاشتو راهیسې بې درکه و، خپل او پردي یې ورپسې ګرځېدل، خو هیچا ته یې څه پته نه لګېده، ان تر دې چې پولیس هم د هغه په اړه د پوره معلوماتو په ټولولو کې پاتې راغلي وو. یوه ورځ ټکنه غرمه وه، ور په زوره - زوره ووهل شو، اغاجان ورپرانیست، څلور پولیس له ټوپکو سره ور ننوتل او له ننوتو سره سم یې اغاجان له ځټه ونیوه.

- ووایه! زوی دې چېرته پټ کړی دی؟

آغاجان په ژړغوني اواز وویل:

- صاحبه ما چېرته پټ کړی دی، زما خو ورپسې اوښکې وچې شوې، شپه او ورځ را کره ویر دی او نه یې مور څه خوري او نه یې خوبیږي.

- ښه! نو په هوا ژوندي یاست؟ همدا مو اوریدل غوښتل، زموږ خیال و چې تاسو به ساده باده خلک یاستئ. چم ګاونډ، کلي او هېواد کې څه روان دي، تاسو به هیڅ ورسره سروکار نلرئ، مګر نن هر څه مالوم شول، سپینه ولې نه وایې چې زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې تروررستانو سره مل دی ، دا غتې ، غتې خيتې مو له بادونه دي ډکې شوې ، دا ټول د تروررستانو مال دی.

اغاجان ډېر ځوګندونه وخوړل، خدای او رسول يې ډېرورته ياد کړل. دهغه پر ملا باندې د کنداغونو سختو وارونو د ځنګ له کوتې ښځينه ترغولي را ورسولې او په ژړا ، ژړا يې اسمان په سرواخيست، خو د پوليسو بې رحمه زړه ته ترس ونه لويده.

-روان شه ! دروغ او رښتيا به دې نن مالوم شي، ستا ټول ټبر راته د تروررستانو جاسوسان ښکاري ، ووځه، د ښځو پړوني کې ځان مه پټوه.

اغاجان ترا وسه څه منتونه، زاری کولې مګر د پړوني شاته د پټيدو خبرې د هغه درنې پښې له وزرو نه هم سپکې کړې، په فکرونو کې ډوب ورسره روان شو .

له ځان سره يې وويل:

- يا الله ! زما د ټبر به څه کيږي؟ لوڼې مې هم اوس پېغلتوب ته رسيدلي دي، د هغوی به څه کيږي؟ کورکې يو نارينه هم نشته چې پام پرې وکړي اونيږدې خپل او خپلوان هم نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغا جان څه وخت وروسته څارندوی ته ورسیده ، له خپل ځانه هیڅ خبر نه و، دکور فکر وړی و خو د پولیسو د مشر غږ له فکرونو را ویښ کړو.

- څو مره یې را لیږلي دي ؟

- جي

- جي، جي مه کوه ! رښتیا ، رښتیا راته ووایه ،که نه دا ډنډه وینې، ددې دوه ،گوذاره ستا دارو دي، وایه هغه خر.... دې په کوم ځای کې پټ کړی دی، پوزې ته دې را وستم ، هغه پخوا هم ستا زوی و که نه چې د ترورستانو سره مو نیولی او بیا له مونږ سره په ښته کې مړ شوی و ؟

- نه سیبه ! زه له پخوانه نه یم خبر ، زما د زوی نوم خو دل اغا دی ، د هغه دورکیدو په اړه خو ما راپورهم ثبت کړی دی.

- یو خوا له ترورستانو نه پیسې اخلې، زامن او لونې ورسره لیږې او بیا د دروغو راپورونه... پولیس له هرڅه نه خبر دي، موږ ته راپور راغلی چې ستا زوی له ترورستانو سره مل دی.

د پولیسو مشر امر وکړ:

- تورې کوټې ته یې واچوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اغاجان منتونه او زارۍ هسې عبث لاړې، پولیس خپله فیصله اورولې وه او په نړۍ کې داسې قوت نه و چې هغه له دغه مصیبت نه خلاص کړي.

د بندي خانې په تورتمه کوټنۍ کې داغا جان ژړا او انګولا هم د ځلورو دیوالونو تر منځ غلې شوه.

په ځلورمه ، پنځمه ورځ چې د هغه ټبر(مېرمن) ځارندوۍ ته د ورننوتلو او له پولیسو څخه یې د خپله مېړه په اړه د پوښتنې جرات وکړ نو خبره شوه چې هغه یې د ښار لوېې بندي خانې ته استولی دی. د اغاجان مېرمنې له ځارندوی څخه د وتلو نه وروسته د خپل خاوند د را خلاصولو په خاطر د چم ګاونډ ، د مشرانو او کشرانو ګیرې ونیولې خو په دې ورځو کې چا پولیسو ته د نیږدې کیدو خو لا څه چې د کتلو زړه هم نه کاوه.

د وخت په تیریدو سره د آغاجان د مېرمنې غوږ ته داسې ګنګوسې ورورسېدې چې ګواکې هغه په دریمه ورځ په ځارندوۍ کې د پولیسو له خوا د تروستانو په اړه د مالوماتو تر لاسه کولو په خاطر د وهلو او ټکولو پر وخت وژل شوی او د هغه مړی یې د سره کمر په بن کې ښخ کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خودهغې زړه د دغه حقیقت منلو ته تیار نه واو هره ورځ به له کوره وتله ، کله به یو ځای او کله بل ځای د خپل مېړه په اړه به یې پوښتنې کولې، د مېړه بندي کیدا یې د زوی غم هم ورڅخه څه ناڅه هېر کړی و.

هر کله به چې دا د مېړه په لټه کې له کوره وتله نو هر ځل به یې یوه نفر ته یې د کور د خیال ساتنې په اړه ویل، هغه نفر نه د دوی خپل و او نه د دوی ګاونډی، بلکې یو نرښځی دلاور و ، چې د خلکو په واده، کوژدن، زیږیدنې او یا هم په سنتی کې به یې میدان ګرمولو چې له دې لارې به یې پیسې لاسته راوړلې او د خپل ژوند شپې به یې سبا کولې.

د اغاجان له بندي کیدو وروسته همدغه نرښځی دلاورو چې کله به د نارینه او کله به د ښځو په کالو کې د دوی د کور ورډ بولو او له بازاره به یې د سود سودا ، وړلو راوړلو پوښتنه کوله، که څه به د راوړلوو ، نو هغه کار به یې سرته رسولو، بیا به یې د دوی له کوره لرې، د کوڅې په بل سر کې د پروت ګټ د پاسه ډډه لګوله، هر تلونکي او راتلونکي ته به یې د طمعې نه پرته که چا ځواب ورکاوه او که نه خو ده به سلام یا په خیر راغلی ویل.

د دلاور سترګې به همیش د اغاجان د کور په ور ښخې وې، په ټکنه غرمه کې به چې مطمئن شو ، چې د اغاجان ټبر او درې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واړه لوڼې به اوس د ډوډۍ د خوړلو څخه وروسته ویده شوي وي ،نو دی به هم ځګ شو او خپله لاره به یې ونیوله.

په هغه ورځ هم د آغاجان مېرمنې ورته ویلي و ، چې ښايي د شپې پورې هم بیرته رانشي، دلاور ټوله ورځ په لوږه تېره کړه او بیا درسته شپه یې هم په تش نس او شوګیره تېره کړې وه ، شاوخوا لس بجې د اغاجان میرمن چې ده به ورته ترور ویل ، بیرته راغله ، نو دلاور د امانت ورسپارلو وروسته کلي ته بهر په شاړه کې پرتې خپلې کیږدۍ ته لاړ، په کټ پریوت او لکه ماشوم په بې غمه خوب کې په خړیدو شو.

دلاور ته به د نورو کلیوالو په څېر د اغاجان لوڼو هم ماما ویل،دی د ټول کلي د مشرانو او کشرانو ماما و، په داسې حال کې چې د ځمکې پر مخ یې هیڅ خپل نه درلوده ، همدا کلی دده خپل و ، که چېرې به بې ځايه ناروا به ورسره وشوه او یا به هم د کلي ځلموټو په ټوکو ټکالو کې په ربښتیا وواهه، نو د څو ورځو لپاره به شاوخوا کوم بل کلي ته لاړو خو د لږې مودې وروسته به لکه د پمن سپي لکۍ په خپو منډلې بیرته راغی او هر چاته به یې موسکۍ خوله چینګه چینګه کوله او ویل به چې پلاني کاکا په زوره را وستم، ګني نه راتلم، کلیوال اوس دده له دغه عادت سره ښه اشنا وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اغاجان له تګ راهیسې د هغه د فامیل د پاره د لاورنه زیات باوري او اعتمادي سړی نه و ، هم بې ضرره واو هم یې د څه طمع یې نه لرله، بس که کومه ګیله به یې وه، نو له پاک پروردګاره یې کوله ، چې ولې یې داسې پیدا کړی دی ، څه خطا یې کړې وه، له دې نه چې نه وی پیدا شوی ښه به و.

هره شپه به په کټ کې له پریوتلو وروسته په دغو فکرونو او غمونو ډوب له خدای سره په جنګ و ، او بلاخره به په ډکو سترګو ویده شو.، خو سهاربه ویښید وسره سم د شپې هر څه ورڅخه هېر وو ، په یو نوي جوش به له خپلې جونګړې ووت.

د اغاجان مېرمن ډېره ځیرکه او پوهه ښځه وه، هغې غېر له دلاورنه په بل هیچا باور نه کاوه.

د هغې درې واړه لوڼې اوس د پیغلتوب په درشل ولاړې وې، بخت رویداره، چې د ژوند اولس سپرلي یې لیدلي وو ، سپوږمۍ هم شرموله، هغسې خو درې واړه خویندې مورته ورته ډیرې ښایسته وې او د پلار په څېر د سروه د ونې دنګې، ښانګې وانګې ونه یې وه ، مګر مشره خور یې دومره ښایسته وه لکه نانځکه، د هغې د اخلاقو په اړه به شاوخوا خلکو مثالونه ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دل اغا نه وای ورک شوی نو د بخت رویداري واده به وخته شوی و.

تاج ملوک خان چې په څومره مینه د خپل یوازیني زوی هاشم ملوک د پاره د بخت بېداري د پلار لخوا د ننواتې د منل کېدو درنه میلمستیا او بنډار جوړ کړی و نو د دل اغا له ورکیدو سره سم په هومره بیړه په مات زړه د دغه کوژدن ماتولو ته مجبور شوی و ، هیڅوک نه پوهېدل چې دغه کوژدن د چا په زور ماته شوې وه، مګر د اغاجان کورنۍ د غمونو په داسې سیلاب ور لاهو وه ، چې نه پوهېده کوم غم وژاړي او کوم یو پریږدي.

یوه ورځ ټکنه غرمه وه، ناڅاپه ور وډبېدو ، د اغاجان مېرمن ورغږ کړ:

- څوک یې درغلم. د دروازې پرانستل کیدو سره سم څلور تنه په زوره کور ته دننه ورننوتل.

د دریو تنو په لاس کې ټوپکې او څلورم تن په خپل لاس کې کتاب نیولی له هیبته ډک و.

یو تن وویل:

- تروري مور ستا تکلیف ختمولو ته راغلي یو ، ستا د لوڼو سره نکاح کول غواړو ، راشه ملاصاحبه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې سره د کوټې په لور لاړ، پاتې درې تنه هم ور روان شول.

د اغاجان مېرمنې په حيرانتيا وپوښتل:

داڅه وايې بچيه، دا څه وايې....؟

له ډيرې ويرې د هغې له خولې نور څه ونه وتل.

د اغاجان لوڼې د ور پرانستل کيدو سره ښځينه کوټې ته ننوتې، هغوی د کوټې د کړکۍ نه ټوله ننداره وکړه، په هرڅه پوه شوې، د کوټې يو ور کوڅې پلو ته پرانستل کيدو، منځنۍ لور ادينې هغه ور پرانست، په ډېر اميد يې د کوڅې په سرکې پروت کټ ته وکتل، دلاور خپلې جونګړې ته د تګ لپاه جګ شوی و، ادينې ور منډه کړه او دلاور يې له مټه ونيولو:

محافظان دي که قاتلان خو کورته مو را ننوتي دي، ژر کوه ؟

د ادينې په پښو کې زور نه و، هم هغلته په کټ کيښناسته، دلاور منډه کړه،له هم هغه لارې کوټې ته ورداخل شو، د اغاجان مشرې لور ورته هرڅه بيانول چې په دې کې اواز شو:

- يه جينکو ژر ژر نوي کالي واغوندئ او وار په وار دلته راشئ، ملاصاحب راغلی دی چې نکاح مو وتړي.

بل اواز شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ژر کوئ ژر ..... د اغاجان مېرمنې پرلپسې ژړل ، زارۍ منتونه يې کول - يا بچيه ! داسې مه کوئ.. دا يتيمانې دي.... ګورئ دا روا نه ده ....ډېره ناروا ده .....نن مه کوئ .... په موږ ترس وکړئ...

يو وسلوال خپل ټوپک د هغې په تندي کېښود او ويې ويل:

- غلې کېږې او که نه؟.... د خره لورې... غوږونه دې را وخوړل.

او د يوې لتې سره يې ښکته و غورځوله.

- جينکو ! راځئ که موږ در ننوځو.... دومره وخت را سره نشته.

له دې ډلې څخه يوتن وويل:

د ملاصاحب لاس او خپې داسې سپينې شوي لکه وينه چې نلري.

په دې کې لومړۍ پيغله چې له ځانه يې پرونى تاو کړى و، په ورو ورو راغله او په پسته ژبه يې وويل:

- زموږ مور مه وهئ، موږ واده ته تيارې يو.

ملا صاحب هغې ته د کښيناستلو اشاره وکړه، او ورڅخه چې د رضامندۍ پوښتنې وکړې........د اغاجان ميرمن پخپلې بې وسۍ لکه د کاڼي په ځاى پرته وه، اوس خو يې اوښکې هم وچې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وې، نه پوهیده چې څه روان دي. ملاصاحب د رضامندۍ نه وروسته، د دوو شاهدانو د ګوتو نښې هم د نکاح پر پاڼه واخیستې.

د نارینه وو په اوازونو کې شور شو:

- مبارک شه ! مبارک شه !

په دې کې ملاصیب وویل:

- بله نجلۍ راولئ.

د اغاجان میرمنې د جګیدو کوښښ وکړ خو په پښو کې یې قوت نه و، بیرته ولویده، ، ناوې جیګه شوه او د خور د راوستلو لپاره د ښځو کوټې ته ورننوته ، لږ وخت وروسته تک سور شاله کې نغښتې دوهمه پیغله راغله ،هلته کیښناسته او د نکاح مراسم تر سره شول، د ناوې رضامندي فقط د هغې د سرښورونې پورې تړلې وه، چې د شال په ښوځیدو معلومه شوه د لمړۍ نکاح په څیر د دوهمې د نکاح مراسم تر سره شول، ګوتې ولګول شوې یو دوو تنو بیا مبارک شه ! مبارک شه ! وویل، او بیا چپه چوپتیا شوه.

د دریيمې ناوې راوستو لپاره هم باید څوک تللي وای.

څلور واړو کسانو د یو او بل مخ ته وکتل او بیا یې په ځمکه د اغاجان د میرمنې بې ښوده وجود ته وکتل، خو هیچا هم د ښځو کوټې ته د ننوتلو ته جرات ونه کړ.

یو تن خاموشي ماته کړه او دویمې ناوې ته یې وویل:

- ځه ! ته ولاړه شه او خور دې راوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لږ ارام نه وروسته ناوې پورته شوه، او د ښځو د کوټې په لور روانه شوه)) درې څلور ګامه یې لا نه وو پورته کړي، چې یو وسلوال په ځیر سره د هغې پښو ته وکتل او د هغې په تګ باندې څه شکمن شو ور پورته شو او د ناوې پسې د ښځو کوټې ته ور ننوت، د ننوتلو سره سم د هغه سترګې په مخامخ نیم بیرته ور باندې ولګیدې. د ښځو په کوټه کې له ناوې پرته بل هیڅوک نه و سمدستي یې د ناوې پلو منډه کړه ، ناوې د سر شال لاښکته په کټ هم نه و غورځولی چې دغه وسلوال له مټه ونیوله، او په بل لاس یې د هغې پرتوګ اښ راښکه، پرتوګ ښکته پریوت او وسلوال چیغه کړه:

دا څه دي؟

د کور تر څنګ د بسونو له هډې نه یو بس د تورخم په لور روان شوی و په دې بس کې درې ښځینه سورلۍ چې مخونه یې پټ کړي وو، ناستې وې، په دې وخت کې د دوو ډزو اوازونه تر غوږ شول دوی یو بل ته سره وکتل، د سترګو لاندې یې پړونې لامده شول، یوې غلي له ځان سره وویل:

اِنا لله و اِنا الیه راجعُون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدايي خدمتګار

د سړک پرغاړه بيړه وه، لس دولس ښځې، درې څلور ماشومان او دوه دولس ديارلس کلنې نجونې د يو زلمي نه تاو راتاو ولاړ وې. ډېر سنجيده او خاموشه چاپېريال و. غېر له ماشومانو د هر يو په څېره د خفګان وربځې خورې وې. د زلمي په خوا کې يو سوټکيس (د جامو بکس)، يو غټ بيګ، بستر بند او ټيفن بکس( د خوراک لوخی) پراته وو. زلمی شايد کوم ځای يا بل وطن ته روان و. ښکاريده چې ځان بيري ارولي، ځکه چې نه خو يې وروسته پاتې کېدونکي دواړو د زړونو تنکي رګونه چوونکي وي. سفر که د زده کړې او ګټې په څېر د خوښۍ کارونو لپاره هم وي مګر زړه يې منلو ته نه اماده کېږي. د بيړۍ په منځ کې ولاړ زلمي په بيړه کې د ولاړو کسانو د هيچا هم نه زوی و، نه پلار و، نه ورور و او نه د کوم بل يو خپلوان و. بس هغه ددغو ټولو کسانو سره د زړه يوه ډېره ورته انساني خپلولي لرله. دومره ورته چې د ټولو رشتو جګه د مينې او اخوت يوه رشته وي. د زړونو د پيوستون رشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلاور چې نوی نوی فارغ التحصیل شو او لومړی سرکاري نوکري یې د ډیلی نه یونیم سل کیلو متره لرې لوېدیځ کې پروت د هریانې ایالت د روهتک ولسوالۍ په یوه ناحیه کې ولګېده نو هغه په لومړنیو ورځو کې ډېر ژړلي وو. تنکي عمر د خپل خپلوانو او یارانو د محفل څخه لرې د هغه مثال د سپل نه د جلا شوي مرغه په څېر و. د مور د لاس نګولی د کشر ورور د خویندو سره په نه خبره انګتي او جنګونه ، د همزولو سره د کریکټ لوبو هغه ډېر ژړولی وو لیکن وخت د هر پرهر مرهم وي. د هغه د زړه تنهاکي هم ورو ورو کېناستې او څه موده وروسته نوي پټ ونیولو. د هغه ښه سرېتوب، د هر چا سره د مرستې او کومک رویې ، د مشرانو احترام او له کشرانو سره مینې او محبت په لږ وخت کې هغه د شاوخوا ټولو کورونو یو ګران او محترم غړی وګرځولو. په لاره د تګ په وخت د هغه لاس به تل په تندي و. هر مشر او کشر ته به یې سلام کاوه او د کور کلي د حال احواله نه یې ځان خبر ساتلو ، که چېرې کومه کورنۍ کې به کوم غم تکلیف پېښ شو نو د ټولو نه زیات پریشانه او مصروفه به دلاور و. په پېښو هم دومره سپک و چې په ستومانۍ نه پوهېدو. له کاره به چې بېرته راغی نو تر نیمې شپې به د خلکو په کارونو بوخت و لکه د څرخ (چورلنډی) څرخېدو ، دغې ناحیې ته د راتګ نه دوه میاشتې وروسته چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوې هفتې په رخصتۍ هغه ببرته خپل ښار ته تللو نو ټول ورپسې ډېر خپه و لیکن د هغوی خپګان د هغه د ببرته راتګ سره د هر چا د پاره د څه نا څه سوغات په راوړلو لرې شو. د دغو ورړو ورړو تحفو او ډالیو په برکت دلاور د چا زوی و او د چا ورور، د هر چا خدمت ته به تل لاس په نامه و. د الماس ترور لور چې په ازموینه کې ناکامه شوه هم ده ورته یوه میاشت درس ورزده کړی او کامیابه کړې یې وه. د هغې نه وروسته خو د ده کور چې ټول ټال په ایکي یوه کوټه محدود و، د مازیګر د شپږ بجو نه تر اوو بجو پورې یو فعال ښوونځی ګرځېدلی و، ورکې به د لرې لرې چم ماشومان هم درس ته ورتلل. هغه ورځ خو د هیچا نه هېرېږی کله چې بلرام داس کاکا په ناڅاپي باران کې را ګیر شوی لوند خیشت کورته راغلو، تبې نیولی او څو ورځې له کټه نه و پاڅېدلی. د لاور ددې د پاره خپل ځان ګرم ګڼلو او په لومړي مازیګر یې ورته یوه ښه چترۍ راوړې وه.

د کورنۍ د غړو ډېر اسرار نه وروسته یې پیسې اخیستې وې لیکن هغه هم ډېرې لږې، د هرش سنګهه د پیغلې لور منجیت کور د لیدو د پاره چې د هلک د کورنۍ غړي راتلل نو هم دلاورو چې په لږ وخت کې یې د هغوی د کور څېره بدله کړې وه. دوه درې نوي کټونه، نوې بسترې، دپاسه پرې د غوړولو څادرونه، یو دوه دانې چوکۍ، د سټیل ځینې لازمي لوښي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرې وچې میوې دا هر څه دلاور راوړي وو ، داسې لکه وړیا ، دغه انتظام د هلک په کورنۍ ډېره اغیزه کړې او هم په هغه وخت یې د منجیت نامزدګي قبوله کړې وه. ددې نه وروسته د هرش مېرمن به چې هر ځای کېناسته نو د دلاور د سپتونو په بیان به نه ستومانه کېدله. اوس خو دلاور د هرچا د سختې مل شوی و ، کله کله به دومره سترړی شو چې د تیښتې د پاره به چمتو شو لیکن د دغو خلکو مینې او عقیدې دغه کار ته نه پرېښودلو. د اکبرماما د دریو اولادونو د پاره د کتابونو او بستې موندلو لپاره هغه ډېرې هڅې کړې وې لیکن څه ګټه یې نه وه کړې. بلاخره یوازې د کشر زوی د پاره یې دلیپ کمار د لور زاړه کتابونه راوړي وو ، خو اکه لومړۍ څو پاڼې یې څیرې وې لیکن ګوزاره کېده ، ځکه سرلیک وغیره هسې نه هم څوک نه لولي ، بیا هم د دلیپ کمار لور ترڅو ورځو پړسېدلی مخ ګرځېده چې نوي صنف ته به د زړو کتابونو سره ځي. څو میاشتې دمخه چې د دلاور مور ډېره ناروغه وه او د هغه پلار دلاور ته کورته د راتلو د پاره ویلي وو نو هم د دغو خلکو مینه د دلاور د خپو زولنې ګرځیدلې او هغه یې په داسې مهمه موقه هم کورته د تګ لپاره نه و پرېښی. البته دا ویل ګرانه ده چې دا د دلاور سره د هغو خلکو مینه وه که د هغوی خودغرضي چې دی یې نه و پرېښی ، لیکن څه وخت چې د دلاور مور ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه نو بیا یې پخپل لاس هغه ته لیک راستولی و چې د کار د مصروفیتونو څخه دې لږ وخت د کور لپاره هم سپما کوي.

لکشمي ابۍ خواکه نوم یې پرې والدینو د ثروت د خدایګۍ اینبی و مګر له نسه ډیره وړې او ځان ویني ښځه وه، په کلپې خوله به هره ورځ دلاور ته د معمولي معمولي شیانو راوړلو خواست کاوه چې د دوی پیسې وساتل شي. کله ډنګورۍ کله تختي ، کله ځمځۍ ، کله جاروګۍ ، کله لرګي، کله تیل ، کله ډیوه او کله کله شیرنۍ. شیرنۍ له دې خاطره چې د زړو او سپین سرو په وروستي وختونو کې پستو پستو شیرنیو پسې لاړې څاڅي. یوه ورځ نو د هغې فرمایش ډیر عجیب و.

(( زویه ! ماله لږې ښایسته غوندې تسبې ، یوه جوړه د تیلې پیزار، ښه شانِ کالیو یوه جوړې سره د لوپټې او یو شال که راوړې نو ډیرې دعاوې به مې وکړې، بلې ته خبر یې کنه ستا خور په کرنال کې واده ده. زه سبا د هغې کره د خینښانو کور ته ځمه. که د خور د پاره هم لږ ارزان شیان ډیره ښه قسمه د کالیو جوړه ، د دواړو لاسونو لپاره تک سره بنګړي، یوه سره دوشاله او شینګړیپ راوړې هغه به هم ډیره خوشاله شي )) دلاور په بله ورځ د یو پنډوکي سره راورسید چې ورکې د لکشمي ابۍ تقریبا واړه غوښتل شوي شیان موجود وو. دلاور چې غوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرانستې وه نو د ابۍ سترګې بتې بتې راوتې وې چې د دومره ښه رقمه شیانو پیسې به له کومې ورکوي البته چې دلاور ورته ټول ټال پیسې وویلې نو هغه هکه پکه پاتې شوه. په دومره پیسو خو یوه لوپټه هم نه کیده. ابۍ د تیلې سینډلې په خپو کړې او تسبې یې ژر ژر وګرځولې ، ډیره خوشاله شوه.

له دفتره دلاور هیڅکله تش لاس کورته بیرته نه ګرځیدو. همېشه به یې یو نه یو پنډوکی یا تیلۍ په لاس کې نیولې وه. کله کله به د بار وړونکو په څېر کټ به یې هم په سر ایښی و. ورځې تیریدې. نن ناحیه کې د دلاور د نوکرۍ د دریو کالو وخت پوره شوی و او هغه بیرته خپل ښار ته روان و. د خدای په امانۍ لپاره د شاوخوا چم ګاونډ ډیر کسان چې ورکې ځینې پېغلې او مېرمنې شاملې وې هم راوتې وې، شپږ میاشتې دمخه واده شوې مادهورې وویل: (( وروره ! ستا د لاس راوړي نیل پالش ، لیپ سټیک او پاوډر به تر ډیره وخته ستا یادونه راته تازه ساتي ))

پیغلوټې ادینې مخکې خبره پریکړله (( انکل دا هم هغه کالي دي چې تا راته راوړي وو )) خپلو کالیو ته یې اشاره وکړه. د کلال د بچي د کوږ اوږ لوخي نه هم په زیاته کش کړې خوله چې د غاښونو ښښه ښښانه ورکې چا نه وه لیدلې وریاکور وویل ((

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلاور خانه ! زما بچیه د تیر دوو کالونه مې ژمي کې خوب کړی دی، دومره تودې برستنې او کمپلې دې راته راوړې وې چې په ټول هندوستان کې به پیدا نه شي )) مخکې له دې چې دلاور ځواب ورکړی وای لکشمي ابۍ بیا کله احسان فراموشي کولی شوه، هغې هم د احسان قبلونې په توګه د دلاور په مخکې د مینې او پیرزوینې په توګه دواړه لاسونه رانښکل او په دواړه مخه یې ښکل کړو. په دې کې د دلاور په مخ د هغې ټینګې لاړې هم وموښل شوې او ژر یو مچ پرې د کیښناستلو د پاره وبنګېد لیکن دلاور پرې لاس رانښکلو او وچې یې کړې. لکشمي ابۍ بیا هم بې له ویلو پاتې نه شوه(( زما زوی زما بچوړی ډیر مې تنګ کړی دی )) د ژړغونې اواز سره یې د مکر څو څاڅکي هم را وځلول (( تیره میاشت یې خپلې خورته څومره ښایسته تکه سره جوړه، شال ، بنګړي ، سینګاردان او څه څه راته راوړل )) یو څو اوښکې او بیا یې چیغه کړه (( یا زما خدایه ! زما دومره بخت چیرې دی؟ ما کله دومره ښې ورځې لیدی شوې؟ یا الله زما بچوړی انسان نه، فرشته و فرشته، اوس به څوک زموږ په پرهر مرهم ږدي؟ څوک به رانه د زړه حال پوښتي ؟ موږ خو به اوس دا قصابان اوس په چړو حلال کړي. د کور دومره ارزان - ارزان شیان به څوک راته راوړي؟ )) د دلاور بس راتلوونکی و. هغه د ټولو مینې او محبت له یو دنیاوي انسان نه د بل جهان پریښته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځولی و. د سپین سرې لکشمي ابۍ د اسویلو په اوریدو جذباتو کې ورلاهو شو ویې ویل: ((ابۍ ! دا خو څه دومره ګرانه نه ده. ما دا ټول شیان به د شمشان نه راوړل، تاسو هم دا ډیر ارزان - ارزان توکي له شمشان څخه راوړلی شئ)) بس راغلو دلاور ورته وخوت، مګر ډله کې موجود هر یو تن ګونګ پاتې و بالکل لکه بت، نه سلام نه کلام ، نه چا ژړلی شول او نه چا خندلی، نه مهر و نه غصه، روان بس په دوړو کې پټ شو ، ولاړه ډله هم هغسې ولاړه وه.

یادونه:

شمشان د هندوانو د مړي سوځولو هدیره ده. هلته د بامبڼ له خوا د وروستیو دعاو نه وروسته مړی د چانډال له خوا سیزل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غټې غټې سترګې

زیبا چې نن د خپلې ملاستې کوټې هغه کړکۍ چې د کوڅې پلو خلاصیده د پاکولو لپاره پرانستله نو هک حیرانه شوه. د کوڅې په بله غاړه د ودان کور کړکۍ یې بیرته ولیده او دا هم چې یوه سپین سرې ورکې د کړکۍ د ورونو په پاکولو بوخته وه. تیرو دوه نیم کلونو کې لومړی ځل و چې دا کړکۍ یې بیرته کړې وه، که نه نو تل به بنده وه. دوی به همیش فکر کولو چې شاید دغه کور کې به هیڅوک هم نه اوسیږي که نه نو یو نیم ځل خو به یې هرومرو کړکۍ پرانیستله. زیبا خوشحاله شوه او ژر ژر له زینو ښخه راښکته شوه چې په خپلې لوردا زیری وکړي:

ـ ګرانې ! زیری مې درباندې، خبره یې مخامخ کورته څوک راغلي دي؟.

ـ څه وایې مورې؟ ته څنګه خبره شوې.

ـ د مخامخ کور کړکۍ خلاصه ده او نن یوه بوډۍ ورکې ځای پاکوي.

ـ ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې سره ګرانه هم په هغو خپو په زينو وختله چې پخپلو سترګو هر څه ووينې. يو وار خو يې خپه بې ځايه شوې او ښويدونکې وه خو خداى وساتله. د يو نوي کرايه دار لپاره په نوي کور کې اباديدل سخت ګران دي. د زړو ګاونډيانو روابط لکه د کور د غړو ښه پاخه شوي او په پياوړو دوستيو او دښمنيو بدل شوي دي. د يو نوي تن په کې داخليدل سخت ګران دي. تيرو دوه نيمو کالو کې د زيبا کورنۍ هم په چين کې د ختهک حيثيت درلود. د هيچا سره يې کوم تماس، دوستي يا رابطه نه وه پيدا شوې. دوى هيله من وو چې که هر څوک ،هر کله چې دغه کورته راغى د دوى سره به ډير ښه روابط ولري، ځکه نوې کورنۍ تل د يو او بل د نيږدې اړيکو ته اړوي. ګرانې د کړکۍ څخه مخامخ بېرته د کړکۍ دننه وکتل چې ورکې يوه نرۍ وچکۍ زړه ښځه جارو په لاس ښکته پورته کيدله. په داسې حال کې چې پړونى يې په سر په کار بوخته وه، ترډيره وخته يې د ګر انې سره سترګې ونه جنګيدې. دغه ښځه چې نن وي که سبا ، ګرانه به حتمي ورسره دعا و سلام کوي او کورته به يې راولي چې له نوي ګاونډۍ سره اړيکي ټينګې کړي. ګرانې خپله کړکۍ خلاصه ساتله او په همدغه هيله ښکته ورکوزه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موراو لور دواړه ډیرې خوشحاله وې، داسې لکه چې هم د دوی څوک نیږدې خپلوان یې ګاونډ ته راغلي وي.د شپې به یې په کټ کې د پریوتو سره دواړو د نابلد نا لیدلي نویو ګاونډیانو په اړه تر ناوخته خبرې وکړې چې داسې به وي او داسې به نه وي، داسې به کوم او داسې به کوم.

په بله ورځ د پاڅیدو سره سم ګرانې چټ ته ورمنډه کړه او د کړکۍ څخه پورې یې د خلاصې کړکۍ دننه وکتل لیکن څه کش کړپ نه و. تر دوو ورځو پورې بیا چوپه چوپتیا وه، البته د کړکۍ ورونه به خلاص وو. مور او لور دواړه په شش او پنج کې وې:

- چیرې به د کور میرمن د کور پاکولو له نه وي راغلې؟

-ایا بیا به کړکۍ بنده شي؟

په دریمه ورځ چې ګرانې د خپل لومړي پوړ د کړکۍ څخه پورې وکتل نو هلته یو څوک دکړکۍ په څنګ کې په میز زوړند سر ناست و. شاید د کوم کتاب یا مجلې په لوست بوخت و. ګرانه له حیا ژر د کړکۍ ترشا پټه شوه او په پټه پټو سترګو یې څو ځله د کړکۍ د چاودپورې وکتل، لیکن کتاب لوستونکي سر پورته نه کړو. ګرانه باوري شوه چې څه څوک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک ګاونډیان خو راغلي دي او بلاخره یو او بل سره به حتمي راشه درشه کوو.

ګرانه په ورځ کې څلور پېنځه واره د خپلې کړکۍ خوا ته ورتلله او د مخامخ کړکۍ څخه دننه د چا د لیدو هڅه به یې کوله. کله به کړکۍ خلاصه وه او کله به بنده لیکن ترڅو د دوو نااشنا کسانو سترګې یو شوې نه وي او یو او بل ته یې په موسکا کتلي نه وي. د خبرو اترو پیل نه کیږي. ګرانې که هر څومره کوښښ وکړو خو د نوي ګاونډیانو کور ته د تګ لاره هواره نه شوه.

د کوڅې په بله غاړه د کړکۍ تر څنګ په پروت میز د کتابونو شمار زیات شو. د لوستونکي پوره څیره خو نه ښکاریدله البته دا خبره باوري وه چې هغه یو ځوان زلمی دی، ډیر ښایسته دی، غټې غټې سترګې لري، ډیره ښکلې نرۍ پوزه ، تک تور ویښتان، نري نري بریت او د توربخنې زنې څخه یې دا اندازه لګیده چې ږیره یې پوره نه وه راختلې. ګرانې دا ټوله اندازه د خپلې کړکۍ تر شا هم پخپله لګوله لیکن ستونزمنه دا وه چې د لوستونکي مخ به کړکۍ ته نه مخامخ کیدو ، څنګزن به ناست و ، شاید لوست کې د پوره پاملرنې په خاطر.

هغه ورځ د ګرانې د خاطرو له ټولو سپیڅلې او تل ښیرازه ورځ وه کله چې زلمی له څوکۍ پاڅید ، کړکۍ ته مخامخ ودریدلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شونډو يې د تنکۍ موسکا يوه ښايسته سيلۍ تيره شوې وه. ګرانې سمدستي د کړکۍ د شانه خپلې کوټې ته منډه وروهلې او بيا يې درسته شپه خوب هم نه و کړی.(( څومره ښايسته غښتلی، دنګ دراز زلمی دی. د ګوټې نيوکې ځای هم نه لري، لکه خدای پاک چې په فرصت کې جوړ کړی وي. راته ښکاري د کړکۍ ترشا يې ليدلې يم، ځکه موسکی شوی و، لکه راته وايي ته فکر کوې چې ما نه يې ليدلې، ته ډيره نا پوهه يې؟)) ګرانه په دغه راز خيالاتو کې ډوبه وه، درسته شپه کټ کې ډډې په ډډې اوښتله او سهار د لومړۍ سترګې سره بيا کړکۍ ته رسيدلې وه.

د نهو بجو شاوخوا زلمي خپلې چوکۍ ته ځان ورسولو. مور ورته يوه پياله چای هم راوړلې او په ميز يې ورته کيښودلې. ښايي زلمي ناشته ښکته کړې وه. يو دوه ګوټه چای يې وڅښلې او په مطالعه کې داسې غرق شولو چې ګرد چاپيره دنيا ور څخه هيره شوله. د زلمي په ميزد پرتې راډيو اواز ډير ټيټ اوريدل کيدو او سندره ورکې روانه وه (( ماته په مړو سترګو کتل مه کوه مړ به مې کې زما جانانه !)) ورپسې بله سندره هم همدغه سې وه(( کل جهان کې سترګې نشته لکه سترګې د صنم )) ګرانې فکر کولو (( پرون يې موسکا کوله نن راته پيغام راليږي. راسره دوستي... شايد مينه کول غواړي. خو زه هم دومره ناپوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه یمه چې د یو نا اشنا سره به دومره ژر مینه وکړم. تر څو چې مې ښه پیژندلی نه وي ګورې که خبرې ورسره وکړم. زه څه دومره سپکه هم نه یم او نه دومره ارزانه یمه چې د مینې په لیونتوب کې هوښ او حواس مې ورک شوي وي. نه بلکل نه، که ته ځوان یې، زلمی یې لیکن زما هم د ژوند سودا ده ښه په سوچ او فکر به کوم... خو په مینه د چا زور چلیږي؟ بنده ړوند او کوڼ شي. مینه څه وخت خپله غلبه وکړي چې انسان خبریږي نو ساګ سیلۍ وړي وي. بې نومه اشنا که مینه دې راسره پیدا شوې ده نو راته مخامخ ولې نه راځې؟ مخامخ ولې نه کښینې.؟ یو ځل خو مې ووینه !)).

د الوول کشمکش او خیالاتو په زانګو ښکته پورته کېدونکې ګرانه ورځ په ورځ د نوي ګاونډي په مینه کې راګیریدله. هره ورځ به یې سحر له وختـه سره نوي نوي کالي اغوستل او خپل منزل ته به ور رسیده. لومړۍ څو ورځې خو به یې د کړکۍ تر شا له چاود نه زلمي ته کتل او بیا وروسته ورو ورو هغې هم خپل کټ د خپلې کړکۍ څنګ ته رانیږدې کړلو. کله په یو انداز او کله به په بل انداز کښیناستله، په مکیز به روانه شوه او که زلمي به کتل هم نه لیکن دې به قصدا خپل ځان ورته ورښکاره کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ ذهن ډیر ناپوه او خود غرضه دی. کله کله موږ په پردي ځیز دومره مین شو چې هغه راته خپل ښکاري او د حقدار حق راته بې ځایه ښکاره شي. هغه ورځ خو انتها وشوه. مایکری و ګرانې ډیرې ښایسته او نوې جامې چې پلار یې له المان څخه رالیږلې وې، اغوستې او د کړکۍ مخې ته په دې امید ولاړه وه چې اشنا به یې ستاینه وکړي لیکن دا څه ؟ هغه هډو دې ته هم نه کتل. هم هغلته په ناسته ناسته له ستومانۍ یې د څوکۍ د شا سره ملا ولګوله، لاسونه یې پورته کړل، ستوماني یې وویستله او بیا یې سندره شروع کړه(( ستا د در په خاورو خوښ وم ، درباني مې وه قبوله)) سندره یې ختمه کړه او بیا یې په مردار کتابونو سر ښکته کړو. ګرانې ته یې یو ځل هم ونه کتل. هغې ته ډیر قهر ورغی که لږه پیژند ګلوي یې وی نو سر به یې ور مات کړی و لیکن په دې نیمایي اشنا یي کې دومره جرات ښه نه ښکاریدو. د شپې ډوډۍ یې هم ونه خوړله په ډیر خفګان او مات زړه کټ کې پریوته.

په زړه باندې د صبر د تیږې کېښودلو سر بېره بیا هم ګرانې کړکۍ ته تګ هیر نه کړو ، خو زلمی په دغه سحر رانغلو. په بله ورځ ګرانې د تبې بانه وکړه او ټوله ورځ هم هغلته په کټ کړکۍ ته مخامخ سترګې پرانستې ملاسته پرته وه لیکن د زلمي څه درک نه و. په دریمه ورځ د یوولس بجو شاوخوا هغه د کړکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لـه مخې تیر شو. د کـوم فلمي ستوري نـه کم نـه و. تـک سـپین رنګ، توربخن کمیس پرتـوګ، چشـمي پـه سترګو داسې لکـه شـهزاده معلومیـدلو. ګرانـه د قهـر، مینـې او پخپـل انتخـاب د غرور د ګډ وډو جذباتو تر منځـه د زړه د نـازک خولیـو چوونکي حد ته رسیدلې وه. په دې کې زلمی راغی او د کړکۍ پـه خوا کې ودرید او په ډیره مستی یې سندره زمزمه کړه ((نن د جانان دیدن تـه ځمـه تـورې نـرۍ وریځـې، خدایـه تـه لنـډ کـړې دا د ورځـې تنابونه)) د سندرې په اوریدو ګرانه وریته پیته شوه. ((مینه ما سره کوي او ځي د بل چا لیدو ته. سندرې ماتـه اوروې او یـارې د غیرو سره. زه دلته ستا پـه غم مړه شوم او تـه ځې د اغیـارو دیـدن ته؟)) د ګرانې د تنکي زړه د زغم ټول ورخونه مات شـول. هم پـه هغو خپو ژر ژر له زینې ښکته شوه او مورته یې له څه ویلو د نوي ګاونډیانو کورتـه لکـه د توپـان ورننوتلـه. احتـرام او تکلفـات، سلام او کلام هر څه د هغې نه هیر شوي وو. لکه تنور تکې سرې سترګې نیولې ګرانه د زلمي مور ته په وینا وه:

- بې شرفو، بې شرمو، بې حیا، تاسو له شرم هم نه درځي، پردو لوڼو ته سندرې وایئ، اشارتونه کوئ....؟

- ولې بچیه! څه وشول؟ ولې دومره پـه قهـر یـې. کښـینه.. دلته کښـینه.... لـږې اوبـه وڅښـه لـورې.. د زلمي سـپین

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرې مور چې لوخي يې وينځل راجيګه شوه، ګرانه يې له لاسه ونيوله او په کټ د کښينولو خواست يې ورته وکړلو ليکن ګرانه د قهره تکه سره لمبه وه.

- نه کښينم ستاسو په دې مردار کټ او مرداره چوکۍ. مورې تاسو ته څه دومره سپک او معمولي خلک ښکاره شو، څه بازاري خلک يو، څه لوچک يو. دا کارونه به تاسو کوئ دا به ستاسو خصلتونه وي. مورې ډير پتمن او غيرتمنده کورنۍ يو. دلته کښينه ! ببخ دې ووځي ستا د دې کټ او د کښيناستلو...

- لورې ! ما خو پوهه که؟ زمورې ګناه څه ده؟ څه خطايي رانه شوې ده، ما خو چيرې ته ليدلې هم نه يې.

کورکې د شور او ځوګ په اوريدو له چت نه زلمی هم خپلو زينو خواته راغی او له همهغه ځايه يې له موره پوښتنه وکړه:

- ولې مورې ! څه چل دی؟ څه شور دی ؟

- هم دنه پوښتنه وکړه. نا معقوله بې شرفه ! بې پته ! هر ورځ راځي، راته په کړکۍ کې نيغ کښيني. درسته ورځ په باتو سترګو راته ګوري، اشارتونه کوي او خدای وهلی راته سندرې هم وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې هر څه په اوريدو زلمی ورو- ورو له زينې را ښکته شوی و. په سوچ غرق و ، له وروستی پاوړۍ يې لا خپه ښکته کړې نه وه چې مور يې په چغو چغو په ژړا او سلګو شوه.

- بچوړيه ! ده درته اشارتونه کول؟ دی درته سندرې وايي؟ يا الله ! يا زما بخته ! تا د دې ورځې لپاره ژوندۍ ساتلم؟ بچيه دا عاجزهيڅ‌چاته اشارتونه نه کوي، هيڅ‌چاته سندرې نشي ويلی. دا حق خدای ده ته نه دی ورکړی.

- ګنې زه دروغ وايم؟ ګرانې له قهره وويل.

- نه لورې ! ته دروغ نه وايې، زما د زړه سره ! ته رېښتيا وايې ليکن زما بچوړی زما دا بدبخته زوی ړوند دی. دا به څه اشارتونه وکړي؟

ګرانه لکه د شين اسمان څخه ګرز په مځکه را ولويده. د هغې خپې درنې شوې وې د پورته کولو قوت يې نه درلود. لکه د يو بت د زلمي په سترګو کې يې سترګې خښې وې او د اوښکو يو رود ترې روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوډا

امسا يې راپورته کړه او انګړ ته له راوتلو سره يې په زوره چيغه کړه (( چراغ او بلبلې راځئ چې ځو )) دواړه ماشومان را ووتل ، د يوه په لاس کې د کريکټ کوچنی بيټ و او بل سره يو ارزان بيه توپ. دواړه ماشومان د نيکه نه يو څو قدمه وړاندې روان شول.

د تقاعد نه وروسته د هغه په نورو کارونو کې يو داو چې د مازيګر لمر به زيړی شو او مارغان به خپلو خپلو ځالوته په سيلونو بيرته ستانه شول نو خپل لمسيان به يې پارک ته بيول. په دې وخت کې به کله په کبله کيښناست او کله به د خپل عمر نورو سپين ږيرو سره په خبرو و او له ورايه به يې د خپل سود نندا ره کوله. وايي چې د اصل نه سود خوږ وي. هغه هم د خپل لمسي او لمسۍ سره ډيره زياته مينه درلوده. يوه ورځ چې د ميتهيو د زوی سره دوی دواړو پټ پټوني کول او د دوه دقيقو لپاره د غوړاسکي د کيړپه شا پټ شوي وو او بوډا نه وو ليدلي نو د سترګو په اوښکو يې ټول ګريوان لوند کړې و او چې په نظر يې راغلل نو هم هلته په ځای کيښناست او تر ډيره وخته يې د زړه حرکت معمول ته نه راګرځيده. د ماشومانو هم ورسره زښته

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاته مینه وه بې له هغه یې چیرته ډوډۍ هم نه خوړله. که کال دوه کاله پس تګ راتګ به هم را پیښ شو نو دوی به ورسره غوټه وو.

د ابتدایي کلونو زده کړې او تعلیم هم زیات مشکل نه وي، دغه الف ـ ب - پ یا ای - بي -سي ، شمار. یوځه جمع او منفي. دې ماشومانو دا هر څه د خپل نیکه نه زده کړيوو او په دې کې له یوې خوا هغه ته د خپل مصروفیت یوډیر ګټهور کار په لاس ورغلی و او له بلې خوا یې د انړور او زوی پر وړاندې دده درناوی فقط د یو سپین ږیري زوړ پلار مصنوعي درناوی نه و بلکې هغه استاد هم و. چې د دوی لپاره یې هره میاشت د کورس لپاره ډېرې پیسې بسپنه کولې. هسې خو زاړه مور او پلار بې معاشه داسې مریان وي چې سړی ترې هر کار اخیستی شي. نه د غلا نه د چل ټګۍ او هغوی خو په لاره کې پروت لرګی هم بې ځایه نه پریږدي. د دې د پاره نه چې لاره کوڅه ورسرهرد خزلو ډکه بده ښکاري بلکه د دې د پاره چې د دغه دوه ډکو سره د سون یو دوه پیسې هم د کور د پاره ساتلې وي. په دې کارد دوی دا باور هم پخیږي چې د یو یو څاڅکي سره منګی ډکیدلی شي .کله چې د کور خادم نوکر له پخلنځي نه ځي ، پښه د باندې نه ږدي،او په شیدو پیروی ورته ډیر بد ښکاري.په زیړو غوړو د خیټې مړولو سره سره بادار ته هره ورځ د ګیډې د درد بهانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې ډوډۍ ته يې زړه هم نه کيږي. په دې وخت کې د کور سپين ږيري او سپين سري که په مياشت کې يوه ورځ هم د انړور له لاسه په مينه د پياز سره په سوکړک د کچې ګوتې غوړينه ليکه هم اووينې نو درست کال يې د زړه نه اووځي هر خپل پردي ته د انړور د سخاوت او ورسره د مينې کيسې کوي.

بوډا به د بازار سود سودا هم کوله او که چېرې به په چم ګاونډ کې څه مرګ ژوبله وشوه دی به ورته هميش رسيدو. دا هغه وخت وي چې هرڅوک په ډير احترام او ادب د زړو نه د هغوي د حال احوال پوښتنه کوي او دوي خوشاله شي چې لا هم په خپلولۍ کې يې احترام موجود دی.

بوډا به هرغم ته د ځان رسولو هڅه کوله. په دغه ښه سړيتوب کې د هغه په زړه کې يو لوی ارمان پټ و. چې د غم ځپلو ترمنځ به کيښناست نو په څه نا څه خبره به يې (هرې دوار) کې د مړي هورته د سپارلو په ثواب وعظه وکړو. دی به په دې فکر کې و چې کيدای شي څوک تيار شي او (هرې دوار) ته خپل مړی د ليګلو تصميم ونيسي مګر د بوډا ټيول دوستان، اشنايان او خپلوان هم د ده په شان په اقتصادي بيړۍ سواره و، د لږبار د زياتيدو بهانه يې غوښتله، او دغسې په هرې دوار کې د ګنګا په سپيڅلو اوبو کې د غسل او بيا د سيندلا په غاړه د مراقصې ارمان به يې په ځای پاتې شو. چې کورته به بيرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستون شو نود الماری څخه به یې خپلې تکې سپینې جامې را وویستلې، ښکته پورته به یې کړلې او بیرته به یې په هغه تاخ کې کیښودلې. اوس خویې د جامو رنګ هم خړ شوی او ګونځې شوې وې خوبیا هم نوې وې. واده ښادي یوازې د زلمو او پیغلو د پاره وي د مشرانو د پاره نه، سوبارام چې د خپل نوسي د واده زیری په بوډا وکړونو هغه ډیر خوشاله شو.

د بوډا کاکا زوی او انډور ډیر ښه وو. زوي یې په یو سرکاري دفتر کې کاتب و خو پخپله تنګ دستۍ کې هم خوشاله و، او د خپل پلار ډیر احترام یې کاوه. چې زوی ښه وي انډور نشي خرابیدی، د ده انډور هم د خپل پلار نه زیات د ده احترام کاوه. ده به له خولې خبره نه وه ویستې چې هغې غریبې به د لاس کار پریښودو او د ده امر به یې تر سره کاوه.

البته بوډا کاکا پخپل ژوند کې ایکې یو ارمان لرلو. هغه دا نه چې یوه مینه ولري، د مالدارۍ ښبتن شي، موټرې لارۍ ولري، ځکه خبرو دا یې له وسه وتې خبرې دي ، خو د هغه ارامان دا و چې یوځلې د (هري دوار) مقدس ښار ته ولاړ شي او هلته د ګنګا پر مقدس سیندلا کې د اوو غوپو وهلو وروسته د سیند په غاړه کښیني او یو دوه ساعته عبادت وکړي. لکه د نورو هندوانو دا یې لوي ارمان و او د دې ارمان تر سره کولو لپاره هغه د خپل لومړي معاش نه تیاری شروع

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی و ، لږې لږې پیسې به یې بیلولې او چې څه ناڅه پیسې به غونډې شوې نو تک سپین کمیس پرتوګ او یو څادر یې راوړل. اوس نو نیم کار تر سره شوی و او له هغې وروسته به یې هم پیسې ساتلې مګر سرخوړلې به جمع شوې نه وې چې د مصرف سوری به له یوې خوا راښکاره شوی و.په ټول ژوند کې هغه غېږ له د دغو کالیو اخیستلو څخه پرته بل کوم پرمختګ ونه کړای شو.

یو ایماندار کاتب څخه په دې نړۍ د یوازیني اولاد د تحصیل او د ناروغه مېرمنې د تداوي او روزنې او بیا د اولاد د واده نه پرته د کوم بل غټ کار ترسره کول یا د ترسره کولو غوښتنه سمه نه ده. د خپل ټبر له اوږدې ناروغۍ وروسته یې ډېره هڅه وکړه چې د هغې ایره هرېدوار ته ورسوي او هلته یې په پخپل لاس د ګنګا په مقدس سیندلا کې د بشپړو مراسمو وروسته لاهو کړي. د مېرمنې په مرګ یې ورځې تیرې شوې او څو میاشتې وروسته یې په ډېر نیولي زړه هغه ایره د خپل ښار تر څنګ بهیدونکي رود ته وسپارله. له دې وروسته هغه قانع شو چې هیڅکله هم پخپل مصرف (هرې دوار ) ته نه شي تللی .هر کله چې به یې په چم ګاونډ یا خپلوانو کې څوک مړه شول نو هغه به حتمي غږ کاوه که چیرې ایره د ګنګا په سیندلا کې لاهو شي نو ډېر ثواب لري خو هیچا هم دومره مېړانه ونه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دی یې له ځانه سره هرېدوار ته بیولی وای. دوه درې نفره به ولاړل او په ورځ دوو کې به بیرته راغلل. دی عاجز به هم دغسې ارمانجن پاتې شو او کورته په ورننوتلو سره به یې ورو غوندې الماری پرانیسته چې په (هرې دوار) کې د ګنګا پر غاړه د عبادت د پاره د نویو کالیو جوړه ووینې. یو یوشی به یې ښکته پورته کړل او په مات زړه به یې بیرته کېښودل.

یوه ورځ په باغچه کې ناست و اود تصوراتو په دنیا کې ورک و. د ځوانۍ واړه خوږې خاطرې یې د سترګو په وړاندې د یو فلم په څېر روانې وې چې ناڅاپه یې چا په اوږه لاس کیښود.

- ولې اشنا ! په کومو سوچونو کې ډوب یې؟
- نه نه.. هیڅ... بس فکر مې کاوه چې عمر څومره ژر تېر شو.
- یاره ! پرېږده دا سوچونه ، د نن فکر کوه د نن، دا وینې مخامخ هم د دوی فکر کوه. دا زموږ ګټه ده ، خدای دې دوی ښاد و اباد ساتي زموږ خوشالي هم دوی سره ده ، چېرته دي نور دوستان؟ نه دي راغلي څه ؟
- بس دغه دي راتلونکي به وي، نو وایه نن...
- هو نن خوشاله یم.ددې میاشتې په شلمه مې د زوی واده دی ، ګوره چې اوس به څه بهانه نه کوې، له اوسه تیاري وکړه او چمتو شه، ټولو دوستانو ته بلنه ورکوو ، ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بیا زموږ په ژوند کې داسې ورځ راځي او کنه، ټول دوستان به یو ځای کیږو.

د بوډا زړه وتښنښد ، ډېره موده وروسته داسې ورځ راغلې وه چې دی واده ته بلل شوی و ، سمدستي یې بلنه ومنله او پخپله واده د تګ لوز یې ورسره وکړو.

په اصل کې زاړه، سپین ږیري او سپین سرې غم ، جنازو او میصبتونو ته غوښتل کیږي، خو کله چې د چا واده ، سونتي یا بلې ښادۍ مرکه راشي د کور ځوانان دا خپل ځانګړی امتیاز ګڼي، د هغوی په فکر که د کورعمرخوړلي مشران په دې مراسمو کې څه وخوري نو ګېډه به یې خرابه شي او د کورنۍ د پاره به بل مصیبت جوړشي. ګڼا نڅا خو پریږده که د واده تر کوره لاړ هم شي نو لس ورځې به یې پښې دردونه کوي. دا یو عام فکر دی واده کوژدن په زلمو باندې ښایسته ښکاري.

بوډا پوره دولس ورځې انتظار وکړو اود واده نه یوه ورځ مخکې یې خپل ګډون خبر ورکړ مګر زوی یې د سوبارام په کور کې هیڅوک نه پیژندلو او دی د واده د پاره پخپله تیار شو اود بوډا ارمان سګ سیلۍ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داسې کوچنيو اولويو پېښواو خوږو ترخونه وروسته چې څه وخت تېرشونو ورو-ورو د هغه اشنايانو ، دوستانو او ملګرو چې هغه به ورسره په باغچه کې هره خوږه ترخه خبره کوله هم له دې نرۍ سترګې پټې کړې. نن چې هغه د يو لوی ماتم په لړ کې د راغونډو خپلوانو په منځ کې ناست و او په وچو سترګويې اسويلي کول، نن هيڅوک هم داسې نه وو چې هغه ورته تر غاړې وتي وای او په چيغو چيغو يې ورسره ژړلي وای. نن د هغه يوازينی نيازنين زوی د موټر د ټکر په يوه پېښه کې مړ شوی و او د وروستي غسل لپاره يې مړی کوټې ته دننه شوی و. بوډا په وچو سترګو اخوا ديخوا کتل.او په دې فکر کې و چې ښايي له کوم ګوټ نه به يې زوی په موسکا را ووځي خوډېر ژريې سوړ اسويلي سره په زمکه سترګې خښې کړې. په دې وخت کې يې انګور خواله راغله او په يو مړ ورو غږ يې د هغه په غوږ کې وويل:

- دا دا ....... هغوی نوي کالي غواړي..... د .....

بوډا سر پورته کړ د سوچونو په بهير ورلاهو شو او بيا يې وويل:

- بچيه هم هغه کالي ورکړه.... نوي دي......

او يو سوړ اسويلی يې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوالګر

د نړۍ شاوخوا په هر هېواد کې سوالګر شتون لري، لیکن اسیايي هېوادونه ددې لعنت څخه ډېر زيات متاثره شوي دي، د ناراسته ، لټانو او حرام خورو د پاره د ګېډې ډکولو دا تر ټولو اسانه لار ده. لاړشه په یو چوک کې ودرېږه، خوله کړه وړه ونیسه ، سترګې پټې کړه او لاس و غځوه ، بس څوک نه څوک د عقل د ښمن چې تردې دمه به يې خپل مور او پلار ته اوبه نه وي ورکړې خو سمدستي به له جېبه یوه سیکه راوباسي او د خپل ژوند د واړه ګناهونو د کفارې دبیې په توګه به يې د خیراتي په لاس کېږدي.

مازدیګرته چې درویزه د شرابو یو بوتل او د چرګ یو پنډۍ سره د کور په درشل ننوځي او د خپل ټبر او ماشومانو د چرګ په پنډۍ او د شرابو پر بوتل سترګې ولګېږي نو د هغوی واړه شکایتونه د خره له سره ښکر شي. د چرګ په پښو د ماشومان پیسانې راکاږي چې کله ناکله د وخت د کمبود له کبله اوم پاتې شوي او غرب ماشوم په مخ لکه څپېړې راپریوځي او درویزه د شرابو له تاثیر لاندې خپلې ښځې ته د خپل ننني ورځې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکر، فریب، چل او ټګی لاپې وهي، په کوم چې هغه نن یو ساده کلیوال غولولی دی او دغه د کرایې پیسې یې هم ترې بود کړې وې.

ډیلي کې هم د ګدا ایګرو زور دی. سړی په لاره روان وي چې ناڅاپه یو څوک له یو ګوټ نه حاضرشي او خوله ګړه کړي، که له لوږې کوم دوکان څخه دې څه شی واخیست او خولې ته به دې نیږدې کړی نه وي چې ښکته د پښو په خوا کې به دې سپی خپه پښې کیږدي او سوالګر به دې د لاسه د خوراکي شیانو د سترګو په زور د اخیستلو په کار مصروف وي، یو چوک هم داسې نشته چې واړه ماشومان، ښځې او نارینه سړی په ارامه پریږدي. دوی د سړک پر غاړه د یوې ونې لاندې یوه تیله (بیګ) ایښې وې چې سحر مهال وړوکی له کوره د وتلو په وخت د یو دفتر د هغه کاتب په څېر د غرمې ښه غوړې زیږې ډوډۍ سره له یو دوه اینګولی ایښی وي، څوک چې درسته ورځ د خپل مامور د سپکو سپورو لټو اوربدو وروسته ستړی مازدیګر خپل کور ته بېرته ورګرځي او بیا بیا زړه کې وایي چې که وس یې رسېدلی نو دا نوکري به یې همدا نن پرېښودلې وای،البته د ګدا ایګرو په تیله کې یو څیز اضافي هم موندل کیږي او هغه د دوی د اغوستلو کالي وي چې دوی یې د خپلو وظیفو له شروع کولو نه مخکې بدل کړی وي، ځکه په دغو کالیو کې ورته هیڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیرات نه ورکوي چې څومره زیات یې په کالو تور موبلایل لګولي وي او څومره زیات یې خیرې کړي وي، هماغومره زیاتې پیسې لاسته ورځي، له دې نه پرته د پړسېدلې ګېډې سره د باردارو ښځو روغتون ته د رسولو لپاره د مړي د کفن یا هدیرې ته د رسولو لپاره بل دین او مذهب د ذکر په نوم، د کوم بابا د زیارت په نوم یا دغه راز په کومه بله پلمه سم دم خلکو څخه د پیسو بودولو بې شماره طریقې دوی ته معلومې وي. دوی دومره ښه نفسیاتي پوهه لري چې د ګاک په لیدو پوه شي باید کومه طریقه او چل په کار راولي. دوی داسې مافیاګانې لري چې د لارو کوڅو څخه پردي اولادونه وتښتوي. لاس پښې یې مات کړي یا یې سترګې ړندې کړي. ځینې یې لرې په بل ښار کې خرڅ کړي او هلته ورڅخه د ګدایګرو کار اخیستل کېږي. نن سحر کوم یو ډېر ضعیف او ناتوانه سړی چې له ځانه د ماشوم هلو ځلو قوت هم نه لري د پوزې په موادو یې مخ لړلی پر ځمکه پروت دی. یوې ښځې چې شاید په کوم مبارک کار روانه وه، د دغه سوالګر د سترګو د تاثیر لاندې لس قدمه بېرته راغله، دده په لاسه کې یې د لسو روپو لوټ کېښود، ګېرچاپېره یې وکتل چې چا چا ولیده او بیا په لوړ سر تېروتله، سوالګر ژر لوټ د خپلو کوناټیو لاندې کړ، مخا مخ یې یو خوار او ډنګر مزدورکار چې د سړک د یو برقي ستنې لاندې د لکړو لپاره په خولو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوب او له ځايه نه شوخوځيدی، په پسخېدلو سترګو د لسو روپو لوټ ته کتل چې پرې د دوه وخته د ډوډۍ اوړه پرې اخيستل کېدای شي. مزدورکار پوره زور سره ستن نېغه ودرولې وه، په دې کې شل ګوډ او معذور کسان په مخصوصه رکشا کې يو نفر راغی، شلېدلې جامې په لاسونو او په مخ يې تور رنګ مړلی، تکې سرې سترګې، له قوارې خورب، د ګدايګرو تر خنګ يې ريکشا ودروله ، ښکته راکوز شو او نېغ په درويزه پسې ورغی، د سوالګرنه يې د نن ورځې راټولې شوې پيسې واخيستې، چې ببرته ګرځېدونکی و نو سوالګر ورته وويل:

- هېر دې شول چې نن لومړۍ نېټه ده ، زما د معاش ورځ ده، نانا بړوته لاس کړو.

- هو دا واخله ټولو ته مې ورکړې، بس ستا پاتې وې، دا دی ما چېرته ورځ ناوخته کړې ده؟ بس دغه فکر کې رانه هېر شول چی نن پيسې ولې کمې دي؟

له دې سره د سوالګرو بادار پخپله رکشه کې کيښناست او په بل ګدا پسې روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مــور

د شپېلک له غرېسره اور ګاډی ورو- ورو له سټېشن څخه روان شو. نوي ختلي مساپر لا ځای پر ځای شوي نه وو. د ناستې د پاره چا يوې څوکۍ ته چا بلې ته. کابو ټولې څوکۍ ډکې وې. د نويو سورليو لپاره بېخي ځای نه و مګر بيا هم هر مساپر په يوه نه يوه څوکۍ د ځان ننېستلو په هڅه کې و او زړې سورلۍ وې چې څوک يې د ځانه سره نه کېښنول. څو تنه په څوکيو لکه اوده پراته وو او چې هر چابه د کېښناستلو لپاره د هغوی د پښو د ټېل وهلو کوښښ نو دوی به پښې لا پسې اوږدې کړې.

د ګډوډ پروت سامان له پاسه هم ځينې سورلۍ سورې وې. ځينو مساپرو خو لکه موږک لکۍ پسې چچ ترلی و. کاړي کې د ګوتې د ايښودلو ځای نه و او هغوی نه يوازې خپل بلکې د ګاونډيانو مال اسباب يې هم راوړی و. يوه زړه ښځه چې څادر پر سر و او د ګونځې ګونځې خېرې د پاسه يې د نا اميدۍ نښې له ورايه ښکارېدې. ناهيلې ولاړه وه. هر ځل به چې سورليو اخوا ديخوا د تګ لپاره حرکت وکړو نو هغه به بې تولې شوه او ژر به يې د ناست نفر پر سر لاس کېښود چې ونه لوېږي. د هغې په سترګو کې د سمندر په څېر ژوروالی بربېښېده. د دې کوتې د هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه اوږدې څوکۍ په بل سر کې د کړکۍ خوا کې د تور رنګ په ځادر کې تړلې يو پنډوکی پروت و. يوې سورلۍ د خپلې نوې واده شوې مېرمنې د کښېنولو په خاطر د پنډوکي په څنګ کې ناست زلمي د خپلې غوټې غبرګ کې د نيولو او ځای ناوې ته د ورکولو لپاره ووېل مګر ناست نفر ځواب ورکړو چې دا غوټه نه بلکې يوه سپين سرې ده چې د ختلو راهيسې هم هغسې ځوړنده پرته ده. په دې کې ناست زلمي ولاړې ببر سرې ته هم وکتل چې په درنګ ساعت کې لوېدونکې وه. هغه ودرېدو او په ډېر احترام يې خپله څوکۍ ولاړې ببر سرې ته ورکړه. زړه ښځه د بې شماره دعاوو سره پر څوکۍ کېناستله او ډېر وخت راهيسې بنديوان ټوخې يې راپيل شو. پرته غوټه لږ وخوځېده مګر په ځادر کې پټ ځوړند سريې پورته نکړو. کاړی روان و. نويو او زړو سورليو بيا د سياست، مذهب، د حکومت د ناکامۍ، چل ټګۍ، د جرمونو د زياتېدونکو پېښو او ستونزو په اړه د بحث نه وروسته ديو بل د کورنيو په هکله هم خبرې پيل کړې وې. د بحث مباحثو په دوران کې به کله د ځينې ماشوم د ژړا غږ شو، کله به په بله کوټه کې د ځوانانو شورماشور ختلو چې قيتې به يې کولې او يو څو ځله خو داسې شور هم پورته شو لکه جنګ چې وي. د سپين سرې ټوخې به بيا بيا راپورته کېدو، هغې د ځادر د پېڅکې د غوټې نه د لرګي يوه ټوټه چې غالبا د سونډو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه په خوله کې کېښوده مګر ټوخی یې بند نه شو. پنډوکۍ تـرور ددې هرڅه نه بې خبره پرته وه. لږ لږ وخت وروسته به یې دڅادر دننـه د سـلګیو او اسـوېلو اواز هـم اورېـدل کېـده.د سـپن سـرې ټوخی چې لږ دمـه شـو نـو هغـې پـه څنګ کې دناسـتې پنډوکۍ ترور سلګۍ واورېدې نو ځان یې ټینګ نه کړی شو. پـه دې کـې د ماښام تیاره خوره شوې وه ، ګاړې کې بلبونه بل شوي وو. زیـاتره سـورلیو ډوډۍ خـوړلې وه او ځینـو وروسـتۍ مړۍ پـه لاس کـې وې. سپن سرې د څنګ پنډوکې له متېه وخوځوله:

- ته ډوډۍ نه خورې ، ګوره ټولو وخوړه ، که نه یې لرې نو له مانه یې واخله ، ما سره ډېره ده.

خو پنډوکۍ تـرور کـوم حرکت ونـه کړو ، سپین سرې نوره هم پـه زوره خوځوله (( تاته وایم پاسه ډوډۍ دې وخوره. )) د پنډوکې تـرور ژړا بنـده شـوه ، لـه مـخ یـې څـادر لـرې کـړو او تکـې سـرې سترګې یې سپین سرې ته ور واړولې. سپین سرې ورته بیا وویل (( ډوډۍ وخـوره خـورې ټولـو وخـوړه، بیابـه... دادی بېـره راتلونکی دی ، هر څه خورې را ویې غواړه چې ویې خورې که نـه بیا به تر سهاره وږې پاتې شې. )) سپین سرې چې د وخت ډېرې تودې سرې لیدلې وې پـه هر څـه پوهـه شـوه چـې دا بـوډۍ داسـې کوم غم لري چې یـوه دقیقـه یـې هـم هېرولـو تـه تیـاره نـه ده.سپین سرې خبره بدله کړه او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته د کومې خوا نه راروانه يې خورې.
- له جمونه.
- اوس خو به هلته موسم بدل شوی وي ، هوا به يخه شوې وي.
- هو.
- زه په انباله کې اوسم ،دانبالې موسم هم اوس ښه شوی دی.
- نو ته چېرې روانه يې ؟

پنډوکی ترور ځواب ورکړو(( دجايزې داخيستلو لپاره جيپورته روانه يم.هغې د خبرې د ژر خلاصولو کوښښ وکړو مګر سپين سرې پرې نښود له (( جايزه ، دڅه شي جايزه ،تا ګټلې ده؟؟؟ ) ) پنډوکی ترور يو ځل بيا په ژړا شوه.سپين سرې پښمانه شوه.له دې نه وروسته پوره چوپتيا خوره شوه او يوازې د ګاډي د تګ اواز اوريدل کېدو. شپه نيمايي ته رسېدلې وه. دواړه بوډۍ غلې ناسې وې. د کرنال په سټېشن کې ګاډی تم شو.لومړۍ سپين سرې له اوبه پلورونکي يو بوتل اوبه واخيستې او دڅنګ ناستې سپين سرې ته يې ست وکړو. هغې چې د انکار سر وخوځولو نو دې ورته بوتل په لاس کې کېښود او ورته يې وويل (( وڅکه ، وڅکه ،ستونی دې وچ کلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو.پنډوکۍ ترور او به او ښنبلې او ورپسې سپین سرې هم او به وښنبلې او په دې کې ریل ګاړي بیل شپېلی ووهلو او روان شو.ګونګه شپه کې د ریل ګاړي داواز او دځینو خلکو د خرهاري په منځ کې کله کله یو نیم ټوخی او د ماشوم ژړا اوریدل کېده.نوره غلې غلتیا وه ،ګاړي رفتار نیولی و او د ډنګا ډیچا ، ډنګا ډیچا مسلسل غږ ختلو چې په دې کې یو ناڅاپه له بلې سپین سرې پوښتنه وکړه.چې ته چېرته ځې؟ ، له دې سره سپین سرې چې تر اوسه له اصل نه لرې وه ناڅاپه ساکت شوه (( یو نازولی زوی مې و ،د اته ویشتو کالو و ،پلار یې هم په پوځ کې جنرال و.)) سپین سرې د پوځ د نوم په اوریدو سره لږ ټکنۍ شوه.د پنډوکۍ ترور څخه لږ لرې شوه ، ژر ژر یې سترګې وچې کړې او خپل داستان ته یې داسې ادامه ورکړه: (( تېر جنګ کې شهید شو.)) هغې بلې ورته وویل چې مېړه دې؟.پنډوکې ترور ورته وویل چې هو غوښتل مې چې زوی مې غوښتل چې انجنري وکړي او خپل دفتر پرانیزي او هره ورځ یې په ډک زړه ولیدی شم خو هغه د پوځ شوق لرلو او لاړ په پوځ کې شامل شو.شپږ میاشتې د مخه چې د مجاهدو له خوا پوځي ګاړي والوځولی شول نو په یوه ګاړي کې هغه هم سپورو .له دې سره هغې په چیغو چیغو وژړل ، دژړا د بندولو هر څومره هڅې چې یې وکړې ناکامه شوې او په سلګیو سلګیو کې یې وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا ته ایالتي حکومت هغه دمېړانې جایزه ورکوي.بلې سپین سرې چې په ژړا کې د پنډوکۍ ترور نه هم وړاندې وه د اوبو بوتل دهغې شونډو ته نږدې کړ او په زوره یې ورباندې څو ګوټه اوبه وڅښلې. بیا یې ورته دلاسه ورکړه :(( خورې مه ژاړه ،زموږ د بدبختو هم دغه نصیب دی ، زما میراتې د زوی هم همدا حال دی، مجاهدو د دین او مذهب په نامه له ځان سره بوتلو ،یوه ورځ یې راته مړی راوړو او راته یې وویل چې د پوځ سره په نښته کې شهید شو.له دې سره هغې یو اوږد اسوېلی وکړو او وې ویل : (( که زموږ د کور حالت ښه وای نو هغه به هېڅکله هم له مجاهدو سره نه وای تللی ،وزګارتیا او کوره لوږې هغه مجبوره کړو چې یو کار وکړي او د مجاهدو لپاره هم دا ښه موقع وه، هغوی زمالالی له مانه واخیست ) )له دې سره په ژړا شوه.پخه شپه وه ،له دوی پرته نورې ټولې سپرلی وېدې شوې وې، څوک په ناسته او څوک په یو بل پرتې وې.په دې کې پنډوکۍ ترور یو ځل بیا وویل: (( خورې ماته هم ګوره که نه؟ یوه دقیقه مې هم دهغه خبره له مخې نه لرې کېږي، هروخت مې سترګو ته مخامخ ولاړ وي.څنګه به زما نازولي بچوړي په وړه وړه خبره له ما سره جنګ کاوه ،زه به چې مروره شوم نوبیا به یې پخلا کولم.اوس به مې څوک پخلا کړي ؟ څوک به زما په درد غمجن شي؟ څوک دي چې په نیمه شپه زما اوښکې وچې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه دې کـې ورتـه سـپن سـرې داوبـو ګـوټ ورکـړو او وې ویـل: ((اوس خو دا خوارې شپې د کال نه هم اوږدې شوې دي.پـه کـور کې چې د ناشې انګور سترګو ته ګورم نونه پـو هېږم چې کومې خواته وتښتم.دوه میاشتې یې د واده شوې وې. بیا یې په مړاوو سترګو د پنډوکي ترورنه وپوښتل: ((سبا حکومت ستا شهید زوی تـه جـایزه ورکـوي؟)) خـو هغـې ورتـه سـم دسـتي ځـواب ورکړو((زما د زوی د سر قیمت راکوي.زه پـه جـایزه څه کـوم، زه ترې کوم لرې ځای ته روانه یم، چې زما زوی په کې نه وي، زه پـه هغـه جهـان کـې څـه کوم.پـه دې وخت کـې یـوې لـه حکومـت نـه شکایت پیل کړ او بلې لـه مجاهدینو نـه.پنډوکي تـرور وویـل: زمـا زوی د وطـن لپـاره لاړ او سـتا زوی د دیـن لپـاره خـو دواړه د مور زامن وو.زوی که دهر څه لپاره مړشي خو دمـور زړه ورپسـې درد کوي.پـه دې کـې اخـوا پـه بلـه څـوکۍ کـې یـو ماشـوم د مـور شیدې روبدلې او د خپلې مور په توده غېږه کې ویـده شـوی و او مور هـم ورباندې دمینې لاس ایښـی و. دواړه سـپین سـرې اوس غلې شوې وې او دا ورځخه هېر وو چې کوم زوی د کـومې مـور و.پـه چورتونو کـې غرقې وې،دشـپېلۍ غـږ ختلو، دتـور دود پـه منځ کـې ریـل ګـاړی پـه مخـه روان و .... ډزه غـړپـه..... ډزه غـړپـه..... ډزه غړپه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښاغلي روشن لال ملهوتره لنډه پېژندنه

روشن لال ملهوتره د رامداس ملهوتره زوی او د داتارام لمسی دی. پلرنی ټاټوبی یې د پښتونخوا په سوات کې کابل ګرام سیمه ده. د پیدا ایښت دقیقه نېټه ورته نه ده څرګنده چې پر کوم کال زېږېدلی، خو د سرټیفیکېټ یعنې اسنادو له مخې یې د پیدا ایښت نېټه د ۱۹۵۰م کال د جنورۍ لومړۍ نېټه ده. د هند د نیمې وچې له وېش نه وروسته د شپېتمو میلادي کلونو په شاوخوا کې یې د کورنۍ اقتصادي وضعه ښه نه وه، د ژوند ګذران د ښه کېدا او د روزۍ او نفقې پیدا کولو په موخه یې کورنۍ د ۱۹۷۲ م کال د اپرېل پر شلمه نېټه د سوات له بریکوټ سیمې نه د هندوستان نوي ډیلي ته وکوچیده. په سوات کې یې په پښتو ژبه خبرې کولې، خو په ډیلي کې د هغې سیمې د خلکو په خبرو نه پوهېدل او خلک د دوی په پښتو نه پوهېدل. پر ژبه د نه پوهېدو له امله یې کاروبار ډېر خراب شو، هېڅ کار او خواري یې ونه موندله، کورنۍ یې اړه شوه ډیلی پرېږدي او د هندوستان یوه بل ایالت اتر پردېش ته کډه شي خو څه موده وروستته بیا بېرته له اتر پردېش نه ډیلي ته راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی ملهوتره د پنځه کالو په عمر د پښتونخوا د سوات د بریکوټ په مډل سکول (ښوونځي) کې شامل شو او د غلته یې تر پنځم ټولګي پورې زده کړې وکړې. پر ۱۹۲۲ م کال یې چې کورنۍ له پښتونخوا څخه نوي ډیلي ته ولاړه او بیا یو کال وروسته له هغه ځایه د اتر پردېش Palia Kalan ته کډه شول، نو دغلته په یوه ښوونځي کې په شپږم ټولګي کې شامل شو.

بیا یې کورنۍ د ۱۹۲۳ م کال په جنورۍ کې بېرته ډیلي ته راغله او دهمدغه کال د جون په میاشت کې د ډیلي په بهارت نګر سیمه کې د بهارت نګر په مډل سکول کې په اووم ټولګي کې شامل شو. تر اتم ټولګي پورې یې په دغه ښوونځي کې زده کړې وکړې او بیا د ډیلي د شکتي نګر په "ګورنمنټ هایر سېکنډري سکول" کې شامل شو. له څه وخت تېرېدو وروسته یې د ال انډیا راډیو په پښتو څانګه کې دنده تر لاسه کړه، د دندې تر څنګ یې خپلو لوړو زده کړو ته هم ملا وتړله او پر۱۹۷۲م کال یې له ډیلي پوهنتون څخه په ( English, Hindi, Science, History Political ) کې د B.A سند تر لاسه کړ او تر دې وروسته یې له میرټ پوهنتون څخه پر ۱۹۷۵ م کال په انګلیسي ادب کې د ماسترۍ سند هم واخیست.

د ۱۹۲۹ م کال د مې پر ۲۲ نېټه یې د لومړي ځل لپاره د یوه انانوسمېنټ په لوستلو سره د ال انډیا راډیو له څپو څخه غږ خپور شو. ښاغلي روشن لال ملهوتره د ال انډیا راډیو په پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګه کې د پښتو څانګې د مرستيال په توګه د ۱۹۷۱م کال په فېبرورۍ مياشت کې کار پيل کې.

ښاغلی ملهوتره د ۱۹۸۲م کال د اګست مياشتې پر ۲۰ نېټه د پښتو څانګې مشر وټاکل شو او د ۲۰۰۹ م کال د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې يې دغه دنده ترسره او وروسته تقاعد شوی دی.

ښاغلی ملهوتره اوس د ډيلي ښار په شاليمار باغ کې اوسېږي او خپل شخصي کاروبار کوي.

ښاغلي ملهوتره د پښتو ادبياتو او هنر په بېلابېلو څانګو کې د خپل فکر نيلي وځغلول، اثار يې وپنځول، ژباړې يې وکړې او اوس هم لګيا دی د ژوند يوه برخه يې د پښتو ژبې خدمت ته وقف کړې ده، همدغو کارونو ښاغلی روشن لال ملهوتره د پښتنو اديبانو په کتار کې راوست او نوم به يې د تل لپاره د پښتو ادب په تاريخ کې ژوندی وي.

تر اوسه پورې د ښاغلي ملهوتره شپږ کتابونه د( بدلون)، (د امر مېلمستيا)،( دخرمازغه)، دهندي کيسو ګلدسته( دهندي کيسو ژباړه) او( هندي - پښتو قاموس) چاپ شوي او تر لسو زيات ليکلي کتابونه يې ناچاپ پاتې دي.

مور دښاغلي ملهوتره د لنډو کيسوټولګه چې اوس ستاسې په لاس کې ده او دا هغه کيسې دي چې ښاغلي ملهوتره په خپل قلم ليکلي دي.

په درنښت

څېړندوی رفيع الله نيازی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پالو او فرهنګپالو شخصیتونو ښاغلیو (چرند سنګ او پارسن سنګ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکو څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



Roshan lal malhotra

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۳۴

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**